# د اسلام جزايي حقوق



پوهنوال احمدگل واثق درانی

# کتاب پېژندنه

دکتاب نوم: د اسلام جزايي حقوق

لیکوال: پوهنوال احمدګل واثق درانی

ډیزاین: شریف الله (للموال)

چاپ کال: ۱۳۹۷ هـ.لمریز

دچاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ چارې: سلام خپرندویه ټولنه - جلال اباد

**ترلاسه کولو ځایونه**

**جلال اباد** اصلاح افکارکتابپلورنځی، اسحق زی مارکیټ، لاندې پوړ، لومړی دوکان، جلال اباد.

اړیکشمېرې: ۰۷۹۰۲۰۶۲۶۱ - ۰۷۸۷۷۱٤۹۵٦

ټول حقوق خپرندویه ټولنې سره خوندي دي

# ډالۍ

دغه علمي اثر خپل شهید، مهربان مجاهد پلار او د هغه د حق د لارې ملګرو شهیدانو او غازیانو ته چې د دین، هېواد او خپلواکۍ لپاره یې سرونه د الله تعالی حضور ته نذرانه کړي، هغه مجاهدینو ته چې اوس هم د دغه شهیدانو او غازیانو په نقش قدم باندې روان دي. خپلې ګرانې او مهربانې مور ته چې غېږ یې زما د ښوونې او روزنې لومړنۍ پوړۍ وه او ما سره یې د ژوند په هر پړاوو کې نه هېرېدونکې هلې ځلې کړي دي ډالۍ کوم.

پوهنوال احمد ګل (واثق) درانی

Download From: Aghalibrary.com

# لیکلړ

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| سریزه | ۱ |

عمومي مفاهیم

| | |
|---|---|
| الف- د اسلامي شریعت د احکامو امتیازات | ۴ |
| ب- د اسلامي شریعت امتیاز د قانون په اساس | ۵ |
| دویم- د حقوق جزا اسلام پېژندنه: | ۶ |
| ۱- د حقوقو معنی او مفهوم: | ۶ |
| د حقوقو اصطلاحي معنی او مفهوم: | ۷ |
| د افاقي حقوقو اصطلاحي تعریف: | ۷ |
| د عندي حقوقو اصطلاحي تعریف: | ۸ |
| ۱- د جزا معنی او مفهوم: | ۹ |
| ۲- د جزا غرض (اهداف): | ۹ |
| ۳- د جزاګانو اقسام: | ۹ |
| اول- د جزاګانو تقسیم د خپل منځي رابطې له حیثه | ۹ |
| دویم- د جزا تقسیم د قاضي د سلطې له حیثه: | ۱۱ |
| دریم- د جزاګانو تقسیم د حکم وجوب له حیثه: | ۱۱ |
| څلورم- د محل له حیثه د جزاګانو طبقه بندي | ۱۱ |
| پنځم د جزاګانو تقسیم د جرایمو د اعتبار له حیثه: | ۱۲ |
| لومړی برخه: | ۱۵ |
| حدود | ۱۵ |

لومړی څپرکی

عمومي مفاهیم

| | |
|---|---|
| لومړی مبحث- د حدود و معنی او مفهوم: | ۱۶ |
| لومړی مطلب- د حد لغوي معنی: | ۱۶ |
| دویم مطلب- د حد اصطلاحي تعریف: | ۱۷ |

## عمومي مفاهيم

په دې برخه کې به په لاندې موضوعاتو باندې بحث وکړو ، د اسلامي شريعت امتياز او فوقيت په وضعي قوانينو کې د حقوق جزايي اسلام پيژندنه

لومړی. په وضعي قوانينو کې د اسلامي شريعت د فوقيت دلايل: په ټولو اسلامي هيوادونو کې اسلامي شريعت د افاقي حقوقو د ټولو څخه مهمه اصلي منبع ګڼل کيږي، اوس دلته يوه پوښتنه مطرح کيږي او هغه دا چې ولې د ټولو څخه اولينه، مهمه او اصلي منبع اسلامي شريعت دی؟ دا چې اسلامي شريعت د وضعي قوانينو پر وړاندې امتيازات لري او بل دا چې خپله وضعي قوانينو دغه اهميت او فوقيت قبول کړی چې دواړه جلا تر څيړنې لاندې نيسو.

**الف: داسلامي شريعت د احکامو امتيازات:**

اسلامي شريعت يو سلسله امتيازات لري. چې موږ يې دلته د نمونې په ډول يو څو امتيازات په ډېر لنډ ډول ذکر کوو:

۱- د مرجع له حيثه: د اسلامي شريعت د احکامو مرجع ډېره لوړه او عالي ده او هغه د الله تبارک و تعالی عظيم ذات دی، چې نو موړی هدايات يې د حضرت جبريل امين په واسطه پر حضرت محمد ﷺ باندې نازل کړی دی الله جل جلاله د خپل مخلوق خالق دی او د هغوی په ټولو حالاتو ښه خبردار دی. نو حتماً يې د خپلو بنده ګانو د خير او مصلحت لپاره غوره قانون راليږلی، ولې کوم قانون چې د انسانانو په لاس جوړيږي په هغه کې بيا دغه امتياز نشته.

۲- د مکان او زمان له حيثه: اسلامي شريعت په هر ځای او هر وخت کې د تطبيق وړ دی، څو که موږ وګورو د انسانانو په لاس جوړ شوي قوانين بيا دغه صفت نه لري، د هر ځای لپاره خپل خاص قوانين موجود دي چې يو د

بل سره فرق کوي، لکه د افغانستان قوانين د پاکستان، ايران، تاجکستان او نورو هيوادونو سره توپير کوي
په دې معنی چې د ځای په تغير سره وضعي قوانين يو د بل سره فرق کوي، همدارنګه د وخت او زمان په تغير هم قوانين يو د بل سره تغير کوي، لکه د ظاهر شاه د دورې قوانين د سردار محمد داود خان د دورې سره او د سردار محمد داود خان د دورې قوانين د کمونستي انقلاب او د هغې څخه وروسته چې کوم قوانين راغلي تر نن ورځې پورې ټول يو له بل سره په توپير کې دي
ولې اسلامي شريعت د نن نه ۱۴۳۲ کاله مخکې په نړۍ کې منځته راغلی. خو نن هم هغه قانون يا احکام په هر ځای کې حاکم او د تطبيق دي
۳- اسلامي شريعت د هر قسم اشتباهاتو او خاليګاوو څخه پاک او منزه دی. څرنګه چې موږ او تاسې پردې باندې پوهيږو چې اسلامي شريعت الله جل جلاله نازل کړی او الله جل جلاله ازلي او ابدي علم لري، خو وضعي قوانين بيا نواقص او اشتباهات لري، دا ځکه چې انسانانو جوړ کړي دي او د انسانانو علم ناقص دی او بيا يې اشتباهات ترينه واقع شي.
۴ د اسلامي شريعت څلورم امتياز دا دی چې په اسلامي شريعت کې کوم عقوبات ذکر شوي هغه د دنيا او اخرت دواړو لپاره دي، مګر د انسانانو په لاس جوړ شوي قانون دا امتياز نه لري

**ب - د اسلامي شريعت امتيازد قانون په اساس:**

موږ وايو چې د اسلامي شريعت د امتيازاتو څخه يو بل امتياز موجود دی او هغه دا چې وضعي قوانينو خپله امتياز قبول کړی دی، لکه د افغانستان اسلامي دولت د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون په دې اړه داسې صراحت لري
لومړۍ ماده: افغانستان خپلواک، واحد نه بليدونکی اسلامي جمهوري دولت دی.

دويمه ماده: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت دين د اسلام سپېڅلی دين دی.
دريېمه ماده: په افغانستان کې هيڅ قانون نه شي کولای چې د اسلام سپېڅلي دين د معتقداتو او احکامو مخالف وي.

**دويم-د حقوق جزا اسلام پېژندنه :**

دغه عنوان په حقيقت کې د رې کليماتو څخه جوړ دی چې هغه عبارت دي له:

حقوق، جزا او اسلام څخه چې هريو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

حقوق: د دې لپاره چې د حقوقو په اړه يو څه معلومات ترلاسه کړو په ډېر لنډ ډول د حقوقو معنی او مفهوم او همدارنګه د حقوقو اقسامو ته اشاره کيږي.

**۱ - د حقوقو معنی او مفهوم:**

د حقوقو کليمه لکه چې د نوم نه يې څرګنديږي، د ډېره وړه کليمه ده، چې د څلورو حروفو (ح، ق، و، ق) څخه جوړه ده. مګر د مفهوم په اعتبار مغلقه کليمه ده.

په همدې اساس يې موږ لومړی لغوي معنی او په دويم قدم کې يې په اصطلاحي معنی او مفهوم رڼا اچوو.

د حقوقو لغوي معنی: د لغت له مخې حقوق د ډېرې زياتې معناوې لري چې موږ يې يو څو دلته د مثال په ډول ذکر کوو:

- حق د الله تبارک و تعالی د نومونو څخه يو نوم دی
- حق د ملکيت په معنی دی
- حق د برخې په معنی دی
- حق د قدرت په معنی دی
- حق د ورتيا په معنی دی
- حق د رښتيا په معنی دی

- حق د باطل ضد په معنی دی
- حق د صاحب په معنی دی
- حق د امتیاز په معنی دی
- حق د نیکی په معنی دی
- حق د عوض او بدلې په معنی دی
- حق د ټکس او مالیې په معنی دی
- حق د سلطې په معنی دی

**د حقوقو اصطلاحي معنی او مفهوم :**

لکه څرنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه چې د حقوقو کلیمه ډېره مغلقه او پرمفهومه کلیمه ده او په لغوي لحاظ هم موږ ولیدل، چې ډېرې زیاتې معناوې لري او په اصطلاح کې هم دغه خبره تحقق پیدا کوي او آن تر دې چې د نن ورځې پورې څېړونکي پوهان او علماء په دې نه دي توانیدلي، چې د نوموړې کلیمې لپاره په یوه تعریف اتفاق وکړي، نو همدا لامل دی چې لومړی یې حقوق په دوه برخو تقسیم کړي او بیا یې د هرې برخې جلا تعریف کړی دی، چې هغه عبارت له افاقي حقوقو او عندي حقوقو څخه دي، چې موږ یې د هریو لپاره جلا ، جلا تعریف وړاندې کوو:

**د افاقي حقوقو اصطلاحي تعریف :**

افاقي حقوق هغه اجباري قواعد او مقررات دي چې د قدرت لرونکي مقام له خوا وضعه کیږي او په انسانانو باندې تطبیق کیږي، د ټولنې ټولې برخې په ملي او بین المللي سطحه د دولت د مداخلې او نه مداخلې په صورت کې د افرادو روابط ترتیب او تنظیموي

- حق د باطل ضد په معنی دی
- حق د صاحب په معنی دی
- حق د امتیاز په معنی دی
- حق د نیکی په معنی دی
- حق د عوض او بدلې په معنی دی
- حق د ټکس او مالیې په معنی دی
- حق د سلطې په معنی دی

**د حقوقو اصطلاحي معنی او مفهوم :**

لکه څرنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه چې د حقوقو کلیمه ډېره مغلقه او پرمفهومه کلیمه ده او په لغوي لحاظ هم موږ ولیدل. چې ډېرې زیاتې معنا وې لري او په اصطلاح کې هم دغه خبره تحقق پیدا کوي او آن تر دې چې د نن ورځې پورې څېړونکي پوهان او علماء په دې نه دي توانیدلي، چې د نوموړې کلیمې لپاره په یوه تعریف اتفاق وکړي. نو همدا لامل دی چې لومړی یې حقوق په دوه برخو تقسیم کړي او بیا یې د هرې برخې جلا تعریف کړی دی. چې هغه عبارت له افاقي حقوقو او عندي حقوقو څخه دي، چې موږ یې د هریو لپاره جلا ، جلا تعریف وړاندې کوو:

**د افاقي حقوقو اصطلاحي تعریف :**

افاقي حقوق هغه اجباري قواعد او مقررات دي چې د قدرت لرونکي مقام له خوا وضعه کیږي او په انسانانو باندې تطبیق کیږي، د ټولنې ټولې برخې په ملي او بین المللي سطحه د دولت د مداخلې او نه مداخلې په صورت کې د افرادو روابط ترتیب او تنظیموي

**د عندي حقوقو اصطلاحي تعريف :**

عندي حقوقو د هغه قدرت امتياز، صلاحيت او سلطې څخه عبارت دي. چې يو شخص يې د بل شخص او يا دا چې يو شخص يې د يو جنس يا مال په مقابل کې لري

۲- د حقوقو اقسام: حقوق د مختلفو وجوهاتو له حيثه په مختلفو برخو تقسيم شوي دا چې دولت پکې مداخله لري او که يې نه لري، يا دا چې په ملي سطحه دی که په بين المللي سطه يا دا چې د ا قواعد دي او که امتيازات

همدارنګه حقوق د خاوند په اعتبار سره طبقه بندي شوي، په دې مفهوم چې حقوق د خاوند په اعتبار سره حقوق الله دي او که حقوق العباد دي.

دې نه علاوه نور ټول په لومړي ټولګي کې په تفصيل د مبادي حقوقو په مضمون کې تشريح شوي او د لته يوازې د حقوقو تقسيمات په اعتبار د خاوند سره په ډېر لنډ ډول تر مطالعې لاندې نيسو:

د دې نقطې له نظره حقوق په درې برخو تقسيم شوي، چې هريو يې جلا جلا تر مطالعې لاندې نيول کيږي

حق الله، حق العبد، او حق مشترک، حق الله هغه دی چې د الله ﷻ حق دی او حق العبد هغه دی چې د بنده حق دی او د ريم قسم يې مشترک حقوق دي، دا هغه دي چې د بنده او الله ﷻ دواړو حقوقو باندې مشتمل دي، دا هم په خپل وار سره په دوه برخو باندې تقسيم شوي دي، يو يې هغه دي چې د الله ﷻ حق پکې غالب وي او دا پدې معنی چې د ټولنې حقوق يې تلف کړي وي، لکه شراب څکل او داسې نور او بل هغه دي چې د بنده حق پکې غالب وي، لکه قتل او د هغې قصاص او داسې نور.

د جزا پيژندنه پدې اړه به موږ د جزا تعريف د جزا اهداف او د جزا د اقسامو څخه بحث وکړو.

**١- د جزا معنى او مفهوم :**

جزا په لغت کې د بدلې او انتقام په معنى ده. اما په عقوباتو کې د اذيت او ازار په معنى راځي.

او په اصطلاح کې جزا عبارت له هغو عقوباتو دي چې مجرم ته د اسلامي شريعت او وضعي قوانينو د احکامو او امرو څخه د سرغړونې په صورت کې ورکول کيږي.

**٢- د جزا غرض ( اهداف ):**

په اسلامي شريعت او وضعي قوانينو دواړو کې جزا ګانې د لاندې اهدافو لپاره تطبيق کيږي.

د مجرمينو اصلاح او تربيې لپاره، د افرادو د پند او عبرت لپاره، د ټولنې د عامه مصالحو د ساتنې او مفسداتو د مخنيوي لپاره، يعنې جزا د انسانانو د ژوند، بدن، مال، دين، عرض، نسل، ازادۍ او نورو مخنيوي لپاره ورکول کيږي.

**٣ - د جزا ګانو اقسام :**

جزا ګانې زيات اقسام لري، چې د مختلفو وجوهاتو له مخې په مختلفو ګروپونو طبقه بندي شوي او په لاندې برخو کې ترې يادونه کوو:

**اول- د جزاګانو تقسيم د خپل منځي رابطې له حيثه:**

د خپل منځي رابطې له حيثه جزا ګانې په څلورو برخو تقسيم شوي دي، چې هريو يې جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو:

A - اصلي جزا ګانې: اصلي جزا ګانې عبارت له هغو جزا ګانو دي چې اصلاً د يو معين جرم لپاره ټاکل شوي وي، يا دا چې دا هغه جزا ګانې دي چې خپله د همدغه جرم د اجرا کوونکي لپاره ټاکل شوي وي، لکه قصاص د قتل عمد لپاره، رجم د محصن زنا کار لپاره، قطع د غل لپاره.

B - بدلي جزا ګانې: دا جزا ګانې عبارت له هغو جزا ګانو دي چې اصلي جزا د يو ساقط کوونکي سبب په اساس ساقط شي يا دا چې ديوې شرعي

مانع په اساس اصلي جزا تطبيق نشي، لکه قصاص يا حدود چې ساقط شي او د قصاص په عوض ديت او د حدودو په عوض تعزيري جزا تطبيق شي. عبارت له بدلي جزا ګانو څخه دي

C - تبعي جزا ګانې ( پيوسته ) جزا ګانې: تبعي جزا ګانې عبارت له هغو جزا ګانو دي، چې جاني ( مجرم ) ته داصلي جزا د ورکولو ترڅنګ پرته د قاضي د حکم څخه ورکول کيږي چې په دې کې موږ دوه خبرو ته اشاره وکړه، يو دا چې د اصلي جزا تطبيق لازمي خبره ده، دويم دا چې د قاضي حکم ته ضرورت نه لري، په اتوماتيک ډول د اصلي جزا د تطبيق سره خپله تطبيق کيږي، لکه د قذف د حد تطبيق چې عبارت د ۸۰ درو څخه دي، د شاهدۍ نه قبليدل يې تبعي جزا ده.

D - تکميلي جزا ګانې: تکميلي جزا ګانې عبارت له هغو جزا ګانو دي، چې د اصلي جزا ترڅنګ که چيرې قاضي مناسب وګڼي تعزيري مجازاتو حکم هم کوي. پدې معنی چې د اصلي جزا ترڅنګ د قاضي د حکم په اساس دغه مجازات هم تطبيق کيږي. لکه يو سړی غلا وکړي اصلي جزا يې د لاس پريکول دي. که چيرې قاضي مناسبه وګڼله. غوڅ شوی لاس ورته په غاړه کې واچوي او په بازار کې يې وګرځوي اوس موږ کولای شو، چې د تبعي جزا او تکميلي جزا ترمنځ فرق روښانه کړو او هغه دادی چې تبعي جزا پرته د قاضي د حکم څخه تطبيق کيږي، ولې د تکميلي جزا د تطبيق لپاره د قاضي حکم شرط دی

نوټ: د افغانستان اسلامي جمهوريت د ۱۳۵۵ هش کال د جزا قانون ۱۱۳ ماده داسې صراحت لري

که چيرې يو سړی په حبس دوام يا اوږد حبس څخه لوړوي محکوم شي د لاندې حقوقو څخه محروميږي، د دولت ماموريت. په اداره کې خدمت، د پارلمان غړيتوب ، د ښاروالۍ غړيتوب او داسې نور.

**دویم - د جزا تقسیم دقاضي د سلطي له حیثه :**
د قاضي د سلطي له حیثه جزا ګانې په دوه برخو تقسیم شوي دي، یو حده او څو حده جزا ګانې چې جلا جلا یې مطالعه کوو.
الف - یو حده جزا ګانې: دا هغه جزا ګانې دي، چې قاضي په کې زیاتوالی او کموالی نه شي راوستلی، لکه ټول حدود.
ب - دوه حده جزا ګانې: دا هغه جزا ګانې دي چې ادنی او اعلی حد ولري یا دا چې حد اقل او حد اکثر ولري او قاضي کولای شي چې په دغه کې اندازه تعین کړي

**دریم - د جزا ګانو تقسیم د حکم وجوب له حیثه :**
د حکم وجوب له حیثه ټولې جزا ګانې په دوه برخو تقسیم شوي، چې هغه عبارت له ټاکل شوو او نا ټاکل شوو جزا ګانو دي، چې د هرې جزا لپاره جلا جلا تعریف کوو:
۱- ټاکل شوې جزا ګانې: هغه دي چې د شارع له خوا یې اندازه ټاکلې وي او په قاضي د هغې تطبیق بدون د کمې او زیاتي څخه واجب دی، لکه حدود.
۲- ناټاکل شوې جزا ګانې: هغه جزا ګانې دي، چې د شارع له خوا یې بڼه او اندازه نه وي ټاکل شوي، بلکې قاضي ته د هغې د اندازې د تعین واک ورکول شوی وي، چې د جرم د کیفیت، کمیت، د مجرم وضعه او حالت او همدا رنګه د مجرم شخصیت په نظر کې نیولو سره ورته جزا ټاکي.
**څلورم - د محل له حیثه د جزا ګانو طبقه بندي:**
د محل له حیثه ټولې جزا ګانې پر درې برخو تقسیم شوي، چې بدني جزا ګانې، نفسي جزا ګانې او مالي جزا ګانې شمیرل کیږي، د جزاګانو دا درې واړه ډولونه هم په لاندې کرښو کې جلا جلا وړاندې کیږي

۱-بدني جزا ګاني: دا هغه جزا ګانې دي چې د جاني ( مجرم ) پر بدن باندې واقع کيږي. يا دا چې د دې جزا صدمه د جاني جسم او بدن ته رسيږي، لکه اعدام، جلد، د لاس او پښې قطع کول او داسې نور.
۲-نفسي يا روحي جزا ګانې: دا هغه جزا ګانې دي چې د انسان پر روح او نفس باندې واقع کيږي، يا هغه جزا ګانې دي، چې صدمه يې د انسان روح او نفس ته رسيږي، لکه توبيخ، تهديد، نصيحت او نور.
۳-مالي جزا ګانې: دا هغه جزا ګانې دي چې صدمه يې د انسان جسم او نفس ته نه رسيږي، بلکې صدمه يې مال ته رسيږي، يا هغه دي، چې د انسان پر مال باندې واقع کيږي، لکه نقدي جريمه، ضبط او نور.

**پنځم د جزاګانو تقسيم د جرايمو د اعتبار له حيثه :**

د جرايمو له حيثه جزا ګانې پر څلورو برخو تقسيم شوي دي، چې هغه عبارت له حدود. قصاص او ديت، تعزيرات او کفاراتو څخه دي چې هر يو جلا جلا تعريفوو.
۱-حدود: جمع د حد ده، چې په لغت کې د منع کولو او احکامو په معنی دي او په اصطلاح کې هغه ټاکلي مجازات دي چې تعين يې د شارع له خوا شوی وي او قاضي پکې مداخله نه کوي، چې احناف وايي د الله تعالی د حقوقو لپاره ټاکل شوي وي او جمهور علماء وايي چې د الله تعالی او بنده ګانو د حقوقو لپاره ټاکل شوي وي
۲. قصاص او ديت: قصاص او ديت په لغت کې بدل ته ويل کيږي، لکه قصاص متابعت، برابري او مساوات ته هم وايي او په اصطلاح کې قصاص او ديت دواړه ټاکلي مجازات دي چې يوازې د بنده ګانو د حقوقو لپاره ټاکل کيږي
۳-کفارات: دا هغه عمل دی چې ګناه پرې بخښل کيږي، چې د مريې ازادولو، روژې نيولو او طعام ورکولو په شکل ادا کيږي

۴. تعزیرات. تادیب د مرستي او نصرت په معنی ګانو راغلی او په اصطلاح کې هغه نا ټاکلي مجازات دي، چې د حدود. قصاص دیت او کفارات ونه لري. یا هغه دی چې د جزا د اندازې تعین یې د قاضي په واک کې وي

ځرنګه چې د حقوق جزا اسلام په مضمون کې په دغه جرایمو باندې په تفصیل سره په راتلونکو درسونو کې بحث کیږي. نو ځکه په دې ځای کې د اضافي توضیحاتو څخه صرف نظر کوو. ولې مخکې تر دې چې حدود. قصاص. دیت او تعزیراتو باندې تفصیل سره بحث وشي. بهتره به وي، چې د حد. تعزیر او قصاص ترمنځ توپیر باندې په ډېر لنډ ډول رڼا واچول شي

په شریعت کې د حد. قصاص او تعزیر ترمنځ فرقونه وجود لري، چې په لاندې ډول تر یې یادونه کوو:

۱- د معین او ټاکلي حد له حیثه: د حدودو او قصاص د جرایمو لپاره اسلامي شریعت مخکې له مخکې جزا ګانې او د هغوی مقدار او اندازه ټاکلې ده او قاضي ته په کې د جزا د ټاکنې او اندازې اختیار نشته او پر قاضي لازم ده. چې د جرم د ثبوت په صورت کې پرته د کوم زیادت او نقصان څخه یې په هغه ډول ورکړي څنګه چې شارع ټاکلې وي. لیکن په تعزیراتو کې دا موضوع برعکس ده.

۲- د قاضي د سلطې له حیثه: د حدودو تطبیق په قاضي باندې واجب دی، عفوه، بخشش. ابراء. شفاعت او د جزا سقوط په هیڅ ډول نه قبلوي، په قصاص کې هم قاضي د عفوې، شفاعت. ابراء او سقوط حق نه لري مګر که د حق خاوند عفوه وکړي کولای شي.

تعزیر که چیرې د حق الله د و جهې وي د هغې تطبیق د عمومي قاعدې له مخې په قاضي باندې واجب دی، خو د مصلحت له مخې قاضي ته جوا زشته چې هغه عفوه کړي او که چیرې تعزیر هم د بنده د حقوقو پورې تړلی

وي، پدې صورت کې هم عفوه، ابراء او شفاعت حق د خاوند کار دی او قاضي پکې صلاحيت نه لري

۳- د ثبوت له حيثه: په حدودو او قصاص کې د ثبوت وسايل د جمهور علماوو په نزد معلوم او مشخص دي، چې هغه د شاهدانو او مجنی عليه د اقرار څخه عبارت، دی، چې دا هم يو لړ شرايط لري ولې په تعزيراتو کې بيا د جرم د ثبوت وسايل زيات دي او دومره شرايط ورته نه دي ټاکل شوي

۴- د سن له حيثه: د قصاص او حد لپاره د بلوغ سن ضروري دی، ولې په تعزيراتو کې ضروري نه دی

۵- د تلفاتو له حيثه: د امام شافعي رح په نزد حد په تطبيق کې که چيرې تلف رامنځته شي په قاضي باندې د هغې ضمان نشته او د نوموړي شخص تلف او ضايعه هدر ګڼل کيږي او که چيرې د تعزيراتو په تطبيق کې تلف رامنځته شي قاضي يې په تاوان مکلف دی، اما نور امامان لکه امام ابو حنيفه رحمة الله عليه امام مالک رحمة الله عليه او امام احمد رح فرمايي چې په تعزيراتو کې هم په قاضي باندې تاوان نشته، په دې اړه د واړه ډلې علماء خپل خاص دلايل لري چې د لته يې د تشريح څخه صرف نظر کوو. اوس راځو بيرته خپلې اصلي موضوع ته چې هغه د حدودو، قصاص، ديت او تعزيراتو څيړنه ده، نو دې لپاره چې د غه مسايل په اسانۍ سره تشريح او توضيح کړای شو بهتره به وي چې هريو جلا، جلا تر مطالعې لاندې ونيسو.

## لومړی څپرکی

## عمومي مفاهیم

پدې څپرکي کې به پر لاندې موضوعاتو رڼا واچوو: د حدودو مفهوم، د حدودو د اقامې حکمت. ایاحد عفوه او شفاعت قبلوی؟ د حدود سقوط د شبهاتو په اساس. د حدودو د اجرا شرایط . د حدودو په تطبیق کې احتیاط چې د نبه پوهیدو لپاره هریو جلا . جلا تر مطالعې لاندې نیسو.

### لومړی مبحث - د حدود و معنی اومفهوم :

حدود جمع د حد ده او حدود دوه معناوې لري چې یوه یې لغوي معنی او بله یې شرعي (( اصطلاحي )) معنی ده. چې په دوو بحثونو کې به وړاندې شي.

### لومړی مطلب - د حد لغوي معنی :

حد په لغت کې په څو معناوو سره راغلی دی. لومړی حد د منع کولو په معنی. شرعي حدود په دې وجه نافذ وي چې مجرم ته په جزا ورکولو سره مجرم اصلاح او نورو خلکو ته عبرت شي. پدې اساس به ټول خلک د مجرمانه فعل کولو منع شي ( هدایه، ۴ جلد، ۷۰۲ ) په همدې وجه پیره دار ته هم حداد وایي او پیره دار ته ځکه حداد وایي چې خلک د داخلیدو څخه منع کوي ( فقه الاسلامي وادلته جلد مخ ۷۴۰ - ۵۲ ) همدارنګه حد د محاربه او معاصي په معنی هم راغلی دی. لکه چې الله تعالی فرمایي:

تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا [البقره: ۱۸۷]

حد د احکامو په معنی هم راغلی او داځکه چې اندازه یې الله تعالی ټاکلې ده.

لکه چې الله تبارک و تعالی په قرآنکریم کې فرمایي:

تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَعْتَدُوهَا [ البقره: ۲۲۹]

ترمنځ حايل او جلا کولو ته وايي چې يو د بل
...باچې حدود د دوو شيانو
ترمنځ حايل او جلا کولو ته وايي چې يو د بل
...ره گډ نه شي. يا دا چې يو پر بل تيرى ونه کړي او د هرو دوو شيانو
ترمنځ جلا والى حد گڼل کيږي

[فقه و السنه ۲ جلد ۳۰۴]

او په همدې ډول په جامع او مانع لفظ باندې د حد اطلاق کيږي چې خپلو افرادو ته شامل وي او نور افراد چې د دې څخه نه وي، نشي داخليدی

**دويم مطلب - د حد اصطلاحي تعريف:**

د اسلامي شريعت فقها د حدودو په تعريف کې مختلف نظرونه لري چې يو تعريف ورته احنافو کړى او بل تعريف ورته جمهورو علماو کړى، موږ د دواړو نظريات (تعريفات) په جلا، جلا ډول وړاندې کوو او څيړو:

لومړى جز - د احنافو تعريف: حدود د هغه ټاکل شوو مجازاتو څخه عبارت دي. چې د الله تعالى د حق لپاره ټاکل شوي

[تشريع الجنايى، ص ۸۳]

د دې تعريف څخه لاندې دوه نقطې راوځي يو دا چې د الله جل جلاله حق به وي دويم دا چې ټاکل شوي مجازات دي. که اوله نقطه په نظر کې ونيسو، چې د الله تعالى د حق لپاره ټاکل شوي، نو گورو چې قصاص او د يت په حدودو کې شامل نه شو او دا ځکه چې قصاص او ديت حقوق العباد دي او د لته حد په تعريف کې حقوق الله رانبايي.

که دويمه نقطه په نظر کې ونيسو، هغه دا چې ټاکلي مجازات دي؛ نو گورو چې تعزيرات په حدودو کې شامل نه دي او دا ځکه چې تعزيرات ټاکلي مجازات نه دي

[فتح القدير ۵ جلد ۴ مخ]

دويم جز- د جمهورو علماو تعريف: حدود عبارت د هغو ټاکل شوو مجازاتو څخه دي چې د الله تعالى او بنده گانو په حقوقو باندې واقع کيږي. (۲صفحه ۴) د دغه تعريف څخه هم دوه نقطې استخراج کيږي

يو دا چې ټاکلي مجازات دي او دويم دا چې د الله تعالی او د بنده ګانو په حقوقو باندې واقع کيږي. چې داولې نقطې له مخې تعزيرات په حدودو کې شامل نه دي او دا ځکه چې تعزيرات ټاکلي مجازات نه دي او په دې نقطه کې د احنافو د تعريف سره کوم اختلاف هم نه ليدل کيږي په دويمه نقطه کې قصاص او ديت په حدودو کې شامل شو او دا ځکه چې حدود د الله تعالی او بنده ګانو په حقوقو باندې واقع کيږي او په دې نقطه کې د احنافو او جمهورو علماو ترمنځ اختلاف موجود دی.

**دويم مبحث- د حدودو د اقامې حکمت:**

د حدودو اقامه (تطبيق) د انسانانو لپاره ډېرې زياتې ګټې لري، کله چې حد تطبيق شي په اساس يې مجرمين ختميږي او د ټولو انسانانو لپاره کامل امن. سکون. اطمينان، پرمختګ او انکشاف رامنځته کيږي د حدودو په تطبيق سره دانسانانو د نفس، حيا، عزت، وقار، ازادي، نسل، انساني کرامت، مال او ملکيت او داسې نورو ارزښتونو لپاره امنيت تامينيږي په ټوله کې د حدودو تطبيق په اخلاقي لحاظ د افرادو او ټولنې حمايت کوي، په دې معنی چې اخلاق او عدالت د دې حکم کوي، چې نيکو کاران بايد مکافات او مجرمين بايد مجازات شي، همدارنګه که چيرې حدود تطبيق شي د مجرمينو او د ټولنې د نورو غړو لپاره د پند او عبرت سبب ګرځي. کله چې حد تطبيق شي په دې سره مجرمين د دويم ځل لپاره اصلاح او تربيه کيږي، بل دا چې کله حدود تطبيق شي د ټولنې د دفاع او حمايت سبب ګرځي.
[جزا شناسي ۳۲ - ۴۲ مخونه]

همدارنګه حدودو تطبيق دانساني ټولنې لپاره د خير او اهميت په معنی دی او دغه خبره پر حديث باندې ثابته شوې ده.
ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي

الله تعالی په ځمکه چې یو حد تطبیق شي: نو د هغه څای د او سیدونکو لپاره د خلوېښتو ورځو د رحمت د باران څخه بهتر ده.

[ابن ماجه او نسائي]

په لنډ ډول باید ووایو چې حدود د لاندې پنځه اهدافو لپاره تطبیقیږي:

۱ د مال د حفاظت لپاره.

۲ د نفس د حفاظت لپاره.

۳ د عرض، حیا، عزت او ناموس د حفاظت لپاره.

۴ د دین د ساتنې او حفاظت لپاره.

۵ د نسل د حفاظت لپاره (۲ صفحه ۵۲۷۲)

د یادو پنځو اهدافو لپاره د اسلام مبارک دین پنځه قسمه مجازات وړاندې کړي دي

۱ د مال د حفاظت لپاره د غلا (سرقت) جزا.

۲ د نفس د حفاظت لپاره د قصاص او دیت جزا.

۳ د عرض د حفاظت لپاره د قذف حد.

۴ د دین د حفاظت لپاره د ارتداد حد.

۵ د نسل د حفاظت لپاره د زنا حد.

### دریم مبحث-حدود عفوه او شفاعت قبلوي او کنه؟

حدود عفوه او سپارښتنه نه قبلوي. بلکه د حدودو عفوه او سپارښتنه حرامه ده. د حدودو څنډول په حقیقت کې د الله جل جلاله د حکم څنډول دي، بل دا چې د حدودو په څنډولو باندې د ټولنې مصلحت صدمه ګوري او هر څوک چې د جنایتکار سپارښتنه کوي په حقیقت کې د غه شخص، جنایتکار جرم ته تشویقوي، مجرم نورو جرایمو ته اماده کوي او په نتیجه کې په یو متکرر مجرم بدلیږي.

علما وایي د دې لپاره چې په ټولنه کې امنیت راشي، نو په حاکم او سلطان باندې لازم دي چې هر وخت ورته اطلاع ورسیده هغه باید بې له

خښه حد تطبيق کړي. په دې اړه رسول الله ﷺ موږ ته ډېره ښکلې لارښوونه فرمايلې ده.

[ فقه السنه وادلته] (۴۴۱۰)

عن عايشة رضي الله عنها ان قريشا اهمهم شان المراة المخزومية التى سرقت. فقالوا: من يكلم فيها رسول الله ﷺ فقالو: و من يجترئ عليه الا اسامة رضي الله عنه حب رسول الله ﷺ فكلمه اسامة رضي الله عنه فقال رسول ﷺ: اتشفع فى حد من حدود الله. ثم قام فاختطب فقال: ايها الناس انما اهلک الذين قبلكم انهم كانو اذا سرق فيهم الشريف تركوه و اذا سرق فيهم الضعيف اقامو عليه الحد وايم الله لو ان فاطمة رضي الله عنها بنت محمد ﷺ سرقت لقطعت يدها وفى حديث ابن ربح انما هلک الذين من قبلكم

[(بخاري. ابو دواد. ترمذی و نسايي) ابن ماجه (مسلم ۴۲۴ - ۴۲۵) مخونه]

ژباړه د حضرت عايشه رضي الله عنها څخه روايت دی چې قريشو سره فکر پيدا شو د مخزومي ښځې په غلا کولو سره (ولي چې هغه د شريف قوم څخه وه) هغوی وويل چې په دې باره کې به رسول الله ﷺ ته څوک ووايي؟ خلکو وويل چې دومره جرات خو په هيچا کې نشته. البته حضرت اسامه رضي الله عنه چې رسول الله ﷺ ته ډېر محبوب دی که هغه يې ووايي نو ويلی شي اخر حضرت اسامه رضي الله عنه جناب رسول الله ﷺ ته وويل رسول الله ﷺ وفرمايل ای اسامه رضي الله عنه ته دا لله جل جلاله په حد کې سپارښتنه کوې. هر کله چې د امام پورې د حد مسئله ورسيږي، نو سپارښتنه کول درست نه وي، البته د امام څخې مخکې د بعضو په نزد جايز دي، په دې شرط چې مجرم شرپسند نه وي).

بيا حضرت رسول اکرم ﷺ ودريد او خطبه يې واوروله او ويې فرمايل ای خلکو! ستاسې څخه مخکې خلک په دغه بې عدالتۍ هلاک شوي دي، هر کله به چې يو شريف سړي په هغوی کې غلا وکړه، نو هغه به يې پرېښوده او که چيرې به يو کمزوري سړي غلا وکړه په هغه به يې حد

قایمولو. په خدای ﷻ مې دی قسم وي که فاطمه ﵂ د محمد ﷺ لور غلا وکړي، نو هغوی نه به هم لاس قطع کوم.
په بل حدیث شریف کې رسول الله ﷺ وفرمایل
محمد بن شعیب د خپل پلار نه او هغې د خپل نیکه نه روایت کړی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تعافوا الحدود فی ما بینکم فما بلغنی من الحد فقد وجب.
ژباړه: حدود په خپل منځ کې عفوه کړئ که چیرې ماته راورسیده بیاېې تطبیق لازمي کار دی.

[فقه السنه ۸ ج]

**د حدودو سقوط د شبهو په اساس:**

حدود عبارت د هغه عقوباتو (مجازاتو) څخه دي چې د جاني (مجرم) جسم، ژوند، شهرت او حیثیت ته صدمه رسوي او هیڅوک نه شي کولای پرته د شرعي سبب څخه د بل شخص جسم، ژوند، شهرت او حیثیت مجروح کړي. نو په همدې اساس حد باید په داسې دلایلو ثابت وي. چې هیڅ قسم شک او شبهه پکې نه وي. هر وخت چې شک او شبهه رامنځته شي د یقین مانع ګرځي. د هغه یقین چې پر هغې باندې احکام بناء شوي وي(۳ ص ۹) په دې هکله رسول الله ﷺ داسې فرمايي:
عن عایشة قالت رسول الله ﷺ ادرءُ الحدود عن المسلمین ما استطعتم فان کان له مخرج فخلو سبیله فان الامام ان یخطئ فی العفو خیر، من ان فی العقوبة. (۹ ص ۵۸۰) رواه ترمذی
ژباړه: بي بي عایشه ﵂) څخه روایت دی، هغه وایي، رسول الله ﷺ وفرمایل، حدود د مسلمانانو نه دفع کړئ، څو پورې چې تاسې کولای شي، بیا که د مجرم د خلاصي امکان (پدې معنی چې د خروج لاره یې موجوده وي) نو هغه پرېږدئ. ځکه که امام په غلطۍ سره خطا کار (مجرم) وبښي، نو دا به بهتره وي د دې څخه چې خطا کار (مجرم) ته په غلطۍ سره عذاب (حد) ورکړي.

همدارنګه رسول اکرم ﷺ فرمايي:
ادرءُ الحدود بالشبهات ) ( متفق عليه ) ص ۳۲ فتح القدير. ۵ جلد )
ژباړه: حدود د شبهو په اساس دفع کړی يعني مه يې قائموئ
چې ابو هريره ﷺ داسي روايت کړی دی:
ادراءُ الحدود ما وجد تم لها مدفعاً ( رواه ابن ماجه )
او عبدالله ابن مسعود دغه حديث ﷺ داسې روايت کړی دی
ادراءُ الحدود بالشبهات ادفعو القتل عن المسلمين ما استطتم، ( تشريع الجنائي ۲ جلد صفحه ۲۹۲ )
د عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې رسول اکرم ﷺ وفرمايل حدود شبهو په اساس ودروئ او ترڅو چې ستاسې توان وي مسلمين د قتل څخه وژغورئ.
اوس د لته يوه پوښتنه مطرح کيږي او هغه دا چې په حدودو کې شبهات په څو ډوله دي؟

**د شبهو اقسام :**

شوافع او احنافو د شبهو د اقسامو په اړه غور او بحث کړی، ليکن نورو فقهاوو په دې اړه زيات اهتمام نه دی کړی او دا ځکه چې شبهات تر دومره زيات دی، چې انحصار نه مني، اما شوافع په نزد شبهي په درې برخو تقسيم شوي، چې هغه عبارت دی: په محل کې شبهه، په فاعل کې شبهه، په جهت يا طريقه کې شبهه د احنافو په نزد شبهې په دوه برخو تقسيم شوي: په محل کې شبهه او په فاعل کې شبهه، چې دا دواړه شبهات د شوافعو لومړيو دوو شبهاتو سره مساوي دي او اخرنۍ شبهې سره فرق لري، نو موږ هم همدغه درې واړه شبهات جلا، جلا تر مطالعې لاندې نيسو.
۱- شبه په محل کې: که چيرې يو سړی د خپلې ښځې سره د حيض يا نفاس په وخت کې د روژې په مياشت يا د روژې په حالت کې اويا د شا له لارې

جماع وکړي، دغه عمل يو حرام عمل دی ولې په دغه سړي حد نه ښته او حد ترېنه ساقطيږي په دې اړه د فقهاوو ترمنځ اختلاف دی، امام ابو يوسفؒ وايي حد پرې ښته او نور علماء وايي چې حد پرې نشته او حد پرې ځکه نشته چې ښځه محل د ايتيان (ځای د ورتلو دی).

۲-شبه په فاعل کې: که چيرې يو سړی غواړي يوې ښځې سره په دې نيت چې خپله ښځه يې ده، جماع وکړي، خو هغه پردۍ ښځه وي، په دې حالت کې هم شبهه رامنځته کيږي او سړي څخه حد ساقطيږي، دغه شبهه به ګمان او عقيده د فاعل واقع شوې او فاعل په دې عقيده وو، چې کوم حرام فعل يې نه دی ترسره کړی، په دې ځای کې هم پر فاعل باندې حد نه تطبيقيږي. ځکه چې د لته شبهه ده او د شبهې په اساس حد ساقطيږي، په دې اړه مو احاديث مخکې لوستي.

۳-شبهه په جهت يا طريقه کې: دغه شبهه د فعل د حرمت او عدم حرمت په اساس منځته راځي. د دغې شبهې منشاء د علماو اختلاف دی، چې د يوې مسئلې په اړه يې کړی وي، لکه يوه ډله د فقها وايي چې دغه فعل حرام دی او بله ډله فقها وايي دغه فعل حرام نه دی، بلکې حلال فعل دی، دغه اختلاف د علماو شبهه منځته راوړي، چې د دې شبهې په اساس حد ساقطيږي.

(۱) د مثال په ډول امام ابو حنيفه رح وايي يې د ولي له اجازې نکاح جواز لري او جمهور علماء وايي د ولي له اجازې غير نکاح جواز نه لري، اوس د لته مونږ ګورو چې د فقهاوو ترمنځ اختلاف منځته راغی، که چيرې څوک يوې جلۍ سره نکاح وکړي او د ولي اجازه يې نه وي او له نکاح وروسته د ښځې سره جماع وکړي، په دې سړي ځکه حد نشته چې د علماوو اختلاف موجود دی، يوه ډله علماء وايي چې نکاح کيږي او نکاح چې وشي جماع ناروا نه ده او بله ډله علماء وايي نکاح نه کيږي، او چې نکاح ونه شي نو جماع حرامه ده، همدغه حرمت او عدم حرمت حد ساقطوي.

۲ مثال امام مالک رح فرمايي پرته له شاهدانو نکاح جواز لري. ولې نور علماء وايي له شاهدانو غير نکاح جواز نه لري. چې د لته هم د علماوو اختلاف په فعل. حرمت او عدم حرمت کې دی، چې د غه اختلاف شبهه منځته راوړي او د شبهې په اساس حد ساقطيږي
لکه څرنګه چې مخکې مو ورته هم اشاره وکړه احنافو شبهه په دوه برخو تقسيم کړې چې يو يې د فعل شبهه او دويم په محل کې شبهه ده چې دا دواړه شبهات مخکې روښانه شول. اما د دې يوې خبرې يادونه بايد وکړو. چې د زنا په حد کې د فعل شبهه په اوو ځايونو کې منځته راځي.
۱ يو سړي ښځه طلاقه کړې او د طلاق څخه وروسته ورسره جماع وکړي په دې سړي حد نشته، ځکه چې د نکاح اثار يې پاتې دي.
۲ د عدت په وخت کې ۳ د پلار د وينځې سره د جماع په صورت کې ۴ د مور د وينځې سره د جماع په وخت کې ۵ د ښځې د وينځې سره د جماع په وخت کې ۶ د مکاتب د وينځې سره د جماع په صورت کې ۷ د خلعې په صورت کې جماع ( پورته ټول بحث (۱)

**پنځم مبحث - د حدودو د اجرا شرايط :**

## د حدودو د اجرا لپاره بايد لاندې شرطونه موجود وي:

۱ - د حدودو د اجرا په وخت کې د امام، حاکم يا د هغه د نايب موجوديت:
په دې اړه د ټولو علماوو ترمنځ اتفاق موجود دی، چې د حدودو د اجرا حکم به امام کوي، که د اجراء په وخت کې امام موجود نه وي بيا هم څه پروا نه کوي. ځکه چې رسول اکرم ﷺ په وخت کې هم داسې پيښې شته، چې رسول الله ﷺ موجود نه و، همدارنګه رسول اکرم ﷺ حضرت (انس ﷺ) ته وفرمايل چې هغې ښځې ته ورشه که اقرار يې وکړ رجم يې کړه
ولې د حکم په هکله دا شرط دی چې امام او يا يې نائب بايد موجود وي.
چې په دې اړه رسول اکرم ﷺ فرمايي: ( اربع الى الولاه الحدود،

والصدقات والجمات والفي. څلور څيزونه حاکمانو ته سپارل شوي حدود، د صدقاتو ويشل، د مالياتو اخيستل او دغنيمت[1] هغه مال چې بې له جنګه د کافرو څخه لاسته راشي.

همدارنګه رسول اکرم ﷺ فرمايي چې حدود او زکات د سلطان په ذمه دي او غير د سلطان څخه بل څوک د دې حق نه لري

۲-د شاهدانو شروع د حدودو په اجرا باندې:که چيرې د زنا حد د شاهدانو په اساس ثابت شوی وي او حد رجم وي، په دې صورت کې لومړنی ګذار به شاهدان کوي، چې دا د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه او امام مالک رحمة الله عليه نظر دی او دليل يې د حضرت ﷺ لاندې قول دی

حضرت علي ﷺ فرمايي که چيرې حد د شاهدۍ په اساس ثابت شوی وي. نو په دې صورت کې به لومړی ګذار شاهد کوي، دويم ګذار به امام کوي او د دې نه وروسته به عوام ګذارونه کوي

حکمت د دې خبرې دا دی، چې دا ډېر سخت کار دی او کيدای شي شاهد له خپلې شاهدۍ واوړي او هر کله چې شاهد له شاهدۍ واوړي، نو په دې صورت کې شبهه وارد ېږي او د شبهې په اساس حد ساقطېږي

امام شافعي او امام احمد رحمة الله عليه فرمايي چې په رجم او د درو وهلو دواړو کې به لومړی ګذار امام کوي[2]

۳-احنافو په نزد د حد د تطبيق په وخت کې بايد د شاهدانو اهليت موجود وي:اما جمهور علماء فرمايي چې د حد د تطبيق په وخت کې د شاهدانو اهليت ضرور نه دی

۴-د حدودو تطبيق په وخت کې بايد د هلاکت ويره موجوده نه وي: او دا ځکه چې حد زجر لپاره دی نه د هلاکت لپاره، نو په همدې اساس حدود نه بايد په ډېره يخنۍ کې تطبيق شي او نه په ډېره ګرمۍ کې، همدارنګه د حمل په حالت کې يا د مرض په حالت کې بايد حد تطبيق نه شي

---

[1] المعنز ۲:ت ک ۳۸۷ [illegible] ۴:ت ک ۳ مخ

باندې نه وه. د دې حکمت په دې کې دی چې که په ټولو ډرو باندې يوه عضوه وهل شي، نو کيداى شي هغه يوه عضوه تلف شي او تلف د هلاکت په معنى دى، خو حدود د اصلاح لپاره دي نه د هلاکت لپاره.
محدود به په څلورو اعضاو نه وهي، سر، سينه، بطن (ګيډه) او تناسلي اعضاء يواځې په متو، ورنونو پنډيو او شاګانو به يې وهي.
اوس د لته يوه پوښتنه پيدا کيږي. چې حدود به په څه قسم ځاى کې تطبيقيږي، ځواب يې همدا دى، چې حد به په عام محضر کې د يو ټولي مسلمانانو په حضور تطبيقيږي[1]

اووم مطلب - د حدودو اقسام: د حدودو د اقسامو په اړه هم علماء کرام اختلاف نظر لري، امام ابو حنيفه رحمة الله عليه حدود په لاندې برخو تقسيم کړي دي
۱ د زنا حد، ۲ د قذف حد ۳ سرقت حد ۴ د حرابت يا قطاع الطريق حد ۵ د شرابو حد او ځني نورو علماوو ورسره د ارتداد حد او د بغاوت حدود هم ملګري کړي، لکه څنګه چې معلومه ده زموږ د بحث اصلي او اساسي موضوع همدغه د حدودو اقسام دي. چې هر يو جلا جلا تر مطالعې لاندې نيسو.

**دویم خپرکی**

**د زنا حد**

وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰٓی اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً ؕ وَسَآءَ سَبِیْلًا ۝

ژباړه: الله جل جلاله فرمایي زنا ته مه نږدې کیږئ هغه ډېر ناوړه کار دی او ډېره بده لاره ده.[1]

دغه حکم هم د انفرادي اشخاصو لپاره دی او هم د ټولنې لپاره، د انفرادي افرادو لپاره د دې حکم معنی داده، چې هغوی دی یوا ځې د دې فعل نه په ډډه کولو اکتفا نه کوي، بلکې هغو مقدماتي او لومړنیو حرکتونو دې هم ځان وساتي چې زنا لپاره د ذوق سبب کیږي

ټولنې لپاره د دې معنی داده چې په ټولنیز ژوندانه کې د زنا کولو څخه او هغو لارو چارو څخه چې د زنا د تشویق سبب کیږي مخنیوی وکړي

دې هدف ته د رسیدو لپاره باید د قرانکریم، سنت نبوي، قانون، ښوونې او روزنې او نورو بهترو تدابیرو څخه استفاده وکړو.[2]

د اسلامي شریعت احکامو زنا حرامه وګرځوله او د مخنیوي لپاره یې لاندې احکام راولیږل.

۱ د ستر او پردې احکام.

۲ د زنا او فحشا د خپرېدو د مخنیوي لپاره کلک تدبیرونه، لکه رجم او جلد عملي شي.

۳ د شرابو فحشا او نورو مضره اعمالو ته په تشویقي وسایلو، لکه موسیقي، نشې، تصویرونو.... بندیزونه لګول.

---

[1] معارف القران ۲ جلد د پنځه لسمه پاره ۷۱ مخ

[2] تفهیم القران ۲ جلد ۸۵۱ مخ، ابن کثیر ۴ جلد ۳۱۰ مخ

۴: ازدواج لپاره داسې احکام او هدایات رالیږل. چې د هغې په اساس نکاح اسانه شي او ټول خلک نکاح وکړي. چې له برکته یې د زنا جرړې غوڅې شي.

د دې لپاره چې یو څه نور معلومات هم ترلاسه کړو. لکه د زنا مخنیوي لارې چارې. د زنا اضرار او خطرونه او د زنا د حد په تطبیق کې احتیاط. د دغه معلوماتو څخه وروسته به د زنا د حد په اړه هر اړخیز معلومات ترلاسه کړو.

۱- د زنا د مخنیوي لارې چارې د زنا د مخنیوي لپاره اسلامي شریعت لاندې لارې او طریقې ښودلې دي

الف - نکاح کول: هر وخت چې یو شخص نکاح او واده وکړي. نو لاندې اهداف تر ېنه لاسته راځي.

د شهواني قوې اشباع کول

- د زنامخنیوی
- حفظ النسل

ب: د ستر او پردې احکام.

ج: د زنا د مخنیوي د لارو او طریقو لپاره د لازمو تدابیرونیول

د: دازدواج لپاره د اسانه قوانینو وضعه کول

هـ: وعظ او نصیحت

و: د دنیا د جزا ترڅنګ د اخرت جزا ټاکل

۲- د زنا اضرار او خطرونه زنا ډېر زیات اضرار او خطرونه لري، چې یوڅو اضرار یې د نمونې په شکل ذکرکوو.

الف. د زنا په اساس ډېر خطرناک اوشدید امراض منځته راځي، چې ځنې امراض یې لا تراوسه بې علاجه دي. لکه ایډز

ب- د زنا په اساس قتل منځته راځي.

ج- د زنا په اساس داسې انسانان د نیا ته راځي چې د هیچا پورې مربوط نه وي( بې سرپرسته اولاد منځته راځي. )

د زنا په اساس د مالکیت حق چې د يو ځخه بل ته په میراث پاتې کیږي، هغه له منځه ځي
د پورته ذکر شوو اضرارو ترځنگ لاندې عیبونه هم لري
لومړی - دا چې زنا کار سړی او زنا کارې ښځې ته خلک د کرکې او نفرت په سترگه گوري.
دوهم- د زنا کار سړي او زنا کارې ښځې په عمر کې برکت نه وي
دریيم- د زنا کار سړی او زنا کارې ښځې په روزۍ او رزق کې برکت نه وي او نقصان لري
زنا په دنیاوي اضرارو او معایبو سربیره لاندې اخروي معایب هم لري
الف- په زنا کار سړي او زنا کارې ښځې د الله تعالى غضب وي.
ب- په زنا کار سړي او زنا کارې ښځې د عذاب سختوالی وي
ج- زنا کار سړی او ښځه به د جهنم اورته داخلیږي

## ۳ - د زنا د حد په تطبیق کې احتیاط:

د زنا د حد په تطبیق کې زيات احتياط پکار دی او دا ځکه چې د زنا مجازات ډیر شدید او غلیظ دي، په دې سره د انسان ژوند ، حیثیت، عزت ،وقار او ابرو ته صدمه رسیږي، په همدې اساس د زنا حد په تطبیق کې باید د زيات احتياط نه کار واخیستل شي چې د اسلامي شریعت احکامو او هدایاتو کې دغه د احتیاط تدابیر مراعات شوي او هغه داسې چې:
الف- د شبهې په اساس د حدودو سقوط، حدود هغه وخت تطبیقیږي چې په یقین سره ثابت شوي وي، که چیرې د حدودو په ثبوت کې شک او شبهه موجوده وي حد باید تطبیق نه شي.
ب- د زنا د حد د ثبوت لپاره څلور شاهدان شرط دي، د ښځو او فاسقانو شهادت په دې هکله اعتبار نه لري

ج- دغه څلور واړه شاهدانو بايد د زنا عمليه داسې ليدلې وي. لکه سلايي په کڅوړه کې.
د- که چيرې دغو څلورو شاهدانو څخه يو د خپلې شاهدۍ څخه وګرځي په نورو درې واړو د قذف حد تطبيقيږي.
پورته توضيحاتو نه وروسته بيرته راګرځو و خپلې اصلي موضوع ته، چې هغه د زنا د حد په اړه هر اړخيزه مطالعه ده، په دې برخه کې به په لاندې موضوعاتو رڼا واچول شي:

**د زنا د حد تعريف او پېژندنه:**

د زنا حد عقوبات

د زنا د حد د ثبوت وسايل

د زنا د حد د جاري کيدو شرايط

د زنا د حد په حرمت باندې د ټولې نړۍ د اديانو اتفاق.

په دې هرڅه د بنه پوهيدلو په نيت به هره يوه موضوع جلا جلا تر بحث لاندې ونيسو.

**لومړی مبحث: د زنا معنی او مفهوم**

د زنا د تعريف په هکله د علماوو ترمنځ اختلاف نظر موجود دی

۱- د احنافو په نزد زنا ديو سړي يوې داسې ښځې سره په مخامخ مخصوص غړي کې مباشرت کول دي، چې د ده په نکاح کې نه وي او د ده په ملکيت کې نه وي.[۱]

په دې تعريف کې د ښځې د مخامخ مخصوص غړي يادونه شوې، نو که څوک د شا له خوا ښځې سره مباشرت وکړي (په دُبر کې) زنا نه ګڼل کيږي. همدارنګه که څوک د نرسره لواطت وکړي زنا نه ګڼل کيږي او که د حيوان سره جماع وکړي بيا هم زنا نه ګڼل کيږي

۲- شوافع زنا داسې تعريفوي، د يو شرم ځاى داخلول دي په بل داسې شرم ځاى کې چې شرعاً حرام وي او په طبعي ډول ميلان ورته کيداى شي او د شبهې څخه خالي وي[۲]

۳- حنابله زنا داسې تعريفوي، د شرعي حق نه پرته په قبل يا (دُبر) کې د نارينه يا ښځې سره جماع کول د زنا څخه عبارت دي[۳]

۴- مالکي علماء د زنا داسې تعريف کوي. قصداً د يو مکلف شخص لخوا وطی کول دي په داسې فرج کې چې د ده ملکيت نه وي[۴]

د احنافو يو اوږد تعريف چې هغه قواعد پکې موجود وي کوم چې حد واجبوي په لاندې ډول دی

زنا هغې حرامې وطی ته ويل کيږي چې د مخامخ لارې د نر او مشتحاتی ،مختاري ،ژوندی او د اسلام په احکامو ملتزمي ښځې ترمنځ په دار الاسلام کې په داسې حال کې چې حقيقي نکاح، حقيقي ملک، شبهه د

---

[۱] البداية والنهاية ۷ جلد ۳۳ مخ

[۲] تشريع الجنايي ۲ جلد ۲۸۷ مخ

[۳] شرح الزرقاني و حاشيته الشيباني، ۸ جلد ۷۴-۷۵ مخونه

[۴] تفسير الجنايي جلد ۲ مخ ۲۸۷

نکاح شبه د ملک او شبه په ځای د اشتباهاتو چې په ملکیت او نکاح کې موجود نه وي، صورت مومي.
د دې لپاره چې په پورته ذکر شوي تعریف ښه پوه شو بهتره به وي چې لاندې اصطلاحات روښانه کړو.
۱-وطی: وطی د یو معلوم فعل څخه عبارت ده، چې د نر د ذکر داخلول دی د ښځې په فرج کې.[۱] په دې ځای کې یو سوال مطرح کیږي او هغه دا چې د فرج داخلول په کومه اندازه وي، خو اب هر وخت چې د ذکر سر په فرج کې پټ شي او د خول منځته راشي د دغه اطلاق په وطي باندې کیږي او که د ذکر سر پټ نه شي وطي ورته نه ویل کیږي، لکه مباطنه او مفاخذه ((د ښځې ګېډه یا ورنونو مینځ کې جماع کول)). خو په دې ځای کې فقهاء په یوه نقطه کې اختلاف لري او هغه دا چې احناف وایي یو اځې مخامخ غړي به مخامخ کې داخل شي. شوافع حنابله، مالکیه او همدارنګه امام ابو یوسف او امام محمد ﷺ فرمایي چې که د شا د لارې وي بیا هم زنا ده.[۲] او د یوې بلې خبرې یادونه هم د لته ضروري ده، چې که د ذکر سر پټ شي که انزال وشي او که ونه شي دا زنا ده.[۳]
۲-الحرام: وطي ته هغه وخت حرامه وطي ویل کیږي، چې د مباشرت لپاره شرعي جواز ونه لري او د مکلف شخص له خوا واقع شوې وي او مکلف هغه شخص ته ویل کیږي چې عاقل او بالغ وي، ماشوم او لیونی مکلف نه دی.
۳-مشتحاتي: د مشتحاتي نه مطلب دا دی چې ښځه به بالغه وي صغیره به نه وي
۴-مختاره: ښځې باید په خپل اختیار سره زنا کړې وي او که چیرې د سړي له خوا پر ښځه باندې جبر شوی وي په دې صورت کې د ټولو

[۱] الفقه الاسلامي وادلته جلد ۵۳۴۹ او ۵۳۵۰ مخونه
[۲] التشریع الجنایي اسلامي ۲ جلد ۲۸۸ مخ
[۳] حاشیه ابن عابدین ۳ جلد ۱۹۴ مخ

علماوو ترمنځ په دې اتفاق دی چې په دې ښځه حد نه شته. په دې ځای کې یوه پوښتنه مطرح کیږي او هغه دا چې که چیرې د ښځې له خوا پر سړي باندې جبر وشي په دې صورت کې په سړي حد تطبیقیږي او کنه؟ په دې هلکه د علماوو ترمنځ اختلاف موجود دی.[1]

امام شافعي رحمة الله علیه او امام مالک رحمة الله علیه فرمایي چې په دې سړي باندې حد نشته او دا ځکه چې رسول اکرم ﷺ فرمایي

رفع عن امتی الخطا والنسیان وما استکرهوا علیه.

ژباړه: زما د امت نه پورته شوی دی د خطا، هیرې او اکراه په اساس.

امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه فرمایي چې په دې سړي حد شته او دا ځکه چې دلته انتشار (نیغ والي) صورت نیولی او انتشار په رضایت باندې دلالت کوي.

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه فرمایي چې د ښځو لخوا پر سړي باندې اکراه په دوه ډوله ده. یوه هغه اکراه ده چې د سلطانې یا حاکمې ښځې له خوا شوې وي او بل هغه اکراه ده چې د عادي ښځې له خوا شوې وي، هغه اکراه چې د حاکمې او سلطانې له خوا ترسره شي په دې سړي باندې حد نه شته او هغه اکراه چې پرته د سلطانې او حاکمې له خوا ترسره شوې په دې باندې حد شته دی.

امام ذفر رحمة الله علیه فرمایي چې په دواړو حالاتو کې په دې سړي باندې حد شته دی په دې معنی چې اکراه د سلطانې له خوا شوې او که نه ده شوې.[2]

**۵ - حقیقي نکاح:** هر هغه جماع چې د صحیح او حقیقي نکاح په صورت کې منځته راشي حد پرې نشته، که چیرې یو سړی د خپلې ښځې سره د حیض او نفاس په وخت کې جماع وکړي، دلته موږ ګورو چې دغه سړي یو حرام فعل ترسره کړی دی اما په دې سړي باندې حد نه تطبیقیږي او دا

---

[1] حاشیه ابن عابدین ۳ جلد ۱۷۲ مخ

[2] مغني المحتاج ۴ جلد ۱۴۵ مخ

ځکه چې د لته حقيقي نکاح موجود ده او که دغه نکاح موجوده نه وي په دغه سړي باندې حد تطبيق کيده.

۲- حقيقي ملک : که يو سړی د خپلې وينځې سره جماع وکړي حد پرې نشته.

۷- شبهة النکاح: د نکاح شبهه هغه وخت منځته راځي چې يو سړی د يوې ښځې سره نکاح وکړي، ولې د دغې نکاح په هکله دعلماوو ترمنځ داسې اختلاف موجود وي، چې يو تعداد علما وايي چې نکاح کيږي او بله ډله علماء وايي چې نکاح نه کيږي؛ نو دلته د حرمت او عدم حرمت مسئله مطرح کيږي او کله چې د يو فعل د حرمت او عدم حرمت په اړه د علماوو ترمنځ اختلاف رامنځته شي، نو دلته شبهه منځته راځي او هر وخت چې شبهه منځته راشي حد ساقطيږي، په دې اړه مو حديث شريف مخکې لوستی دی.

د دې لپاره چې پدغه موضوع ښه پوهه شو، بهتره به وي چې په دې ځای کې يو څو مثالونه وړاندې کړو:

۱ امام مالک رحمة الله عليه فرمايي چې بدون د شاهدانو ښځه نکاح جواز لري يعنې نکاح کيږي ولې جمهور علماوايي چې نکاح نه کيږي

۲ امام ابو حنيفه رحمة الله عليه فرمايي بې د ولي د اجازې ښځه نکاح کيږي، جمهور علما فرمايي چې بې دولي د اجازې ښځه نکاح صحيح نه ده. اوس په دغو دواړو مثالونو کې موږ ګورو چې يو تعداد علماء فرمايي چې نکاح کيږي او چې کله نکاح وشي جماع حلاله او جايزه ده او بله ډله علماء فرمايي چې نکاح نه کيږي دا چې نکاح ونه شي جماع حرامه ده، نو دغه د حرمت او عدم حرمت اختلاف حد ساقطوي[1]

۸- شبهه د ملک: مخکې هم دې خبرې ته اشاره وشوه، چې هر وخت په يو فعل کې شبهه منځته راځي هلته حد ساقطيږي اوس ګورو چې د ملک

---

[1] المغنی المحتاج، ۴ جلد، ۱۴۲، ۱۴۵ مخ المهذب ۲ جلد ۲۲۸ مخ
الميزان للشعرانی، ۲ جلد ۱۵۷ مخ

شبهه څه وخت مطرح کيږي، د ملک شبهه لکه څوک چې د زوی د وينځې سره جماع وکړي په دې صورت کې شبهه د ملکيت رامنځته کيږي، دا ځکه چې د لته د زوی مال د پلار دی لکه چې رسول الله ﷺ فرمايي (انت و مالک لابيک) ته او ستا مال ستا د پلار دی، همدارنګه د مکاتب د وينځې سره د پلار د وينځې سره... او نورو سره جماع وکړي [1]

۹ - شبه په ځای: د اشتباهاتو دا ټولې هغه شبهې چې مخکې درسونو کې پرې بحث شوی د هغې څخه عبارت دی

**دويم مبحث- د زنا د حد د اجرا شرايط:**

د زنا د حد د تطبيق لپاره يو سلسله شرايط وضع شوي. که چيرې دغه شرايط تکميل شي حد تطبيقيږي او که تکميل نه شي حد نه تطبيقيږي، د دې شرايطو په هکله فقها په ځينو حالاتو کې اتفاق لري او په ځينو کې اختلاف لري چې دغه شرايط په لاندې ډول دي

۱- بلوغ: پر صغير باندې حد نه تطبيقيږي

۲ -عقل: که چيرې ليونی د ليوني سره زنا وکړي پر دواړو باندې حد نشته، که چيرې ليونی د عاقل سره يا دا چې عاقل د ليوني سره زنا وکړي په دې صورت کې په ليوني باندې حد نشته او په عاقل باندې حد تطبيقيږي [2]

د ليل يې دا لاندې حديث شريف دی.

رفع القلم عن الثلاث عن النائم حتى يستقظ وعن الصغير حتى يحتلم و عن المجنون حتى يعقل، ترمذی ورته حسن وايي. مسلم او بخاري ورته صحيح حديث وايي.

ژباړه:قلم د درې کسانو څخه پورته شوی دی،ويده ترڅو چې ويښ شوی نه وي،ماشوم ترڅو چې بالغ شوی نه وي او ليونی ترڅو چې جوړ شوی نه وي

---

[1] فقه الاسلامي وادلته ۷ جلد ۵۳۵۲، ۵۳۵۴

[2] فقه الاسلامي وادلته ۷ جلد، ۵۳۲۰ مخ

۳ـ اسلام: د زنا د حد د تطبیق لپاره دریم شرط اسلام دی او دا پدې معنی چې که چیرې یو کافر د بل کافر سره جماع وکړي پر دواړو باندې حد نشته او که چیرې کافر د مسلمان سره زنا وکړي په دې کې د فقهاو ترمنځ اختلاف دی.

امام مالک رحمة الله علیه فرمایي که چیرې کافر مسلمانې ښځې سره جماع وکړي دا به د دوه حالاتو څخه خالي نه وي، یا به یې دغه زنا په زوره کړې وي او یا به یې په خپله خوښه کړې وي، که کافر د مسلمانې سره په زور زنا وکړي کافر باید ووژل شي او ښځه دې خوشې کړای شي.

او که چیرې په خپل اختیار زنا وکړي، په دې صورت کې پر مسلمانې باندې حد تطبیقیږي او کافر تعزیراً مجازات کیږي.

جمهور علماء وایي که چیرې کافر پر جبر باندې زنا وکړي پر کافر حد تطبیقیږي او که په اختیار باندې زنا وکړي په کافر او مسلمان د واړو حد تطبیقیږي.

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه فرمایي چې که د دواړو رضا او اختیار موجود وي مسلمانه ښځه باندې حد تطبیق کیږي او کافر دی تعزیراً په دُرو باندې ووهل شي او دا څکه چې د حد تطبیق لپاره اسلام شرط دی.[1]

۴ - اختیار: د زنا د حد تطبیق لپاره اختیار شرط دی، په دې اړه جمهور علما وایي حد نشته او حنابله وایي حد شته، چې په دې اړه موږ او تاسې مخکې په تفصیل سره بحث کړی دی.[2]

۵ـ جماع: جماع به د انسان سره وي او که چیرې څوک د حیوان سره جماع وکړي د څلورو واړو مذاهبو په دې باندې اتفاق دی چې حد پرې نه تطبیقیږي[3] البته د جزاء په هکله یې مختلف نظرونه لري.

---

[1] الفقه الاسلامي وادلته ۷ جلد ۵۳۲۰ مخ

[2] حاشیه الدسوقي ۴ ټوک ۳۱۸ مخ

[3] الفقه الاسلامي وادلته جلد ۵۳۲۰ مخ

امام ابو يوسف رحمة الله عليه فرمايي چې انسان او حيوان دې دواړه ووژل شي او د حيوان غوښه دې وغورځول شي، شعيه ګان وايي په انسان دې حد تطبيق شي او حيوان دې ووژل شي او غوښه دې وغورځول شي.

ځنې نور علماء وايي انسان باندې حد نشته ولې جزا په اړه اختلاف لري حضرت عمر فاروق رضي الله عنه فرمايي چې حيوان د ووژل شي او تاوان دې جاني (مجرم) څخه واخيستل شي امام ابو حنيفه رحمة الله عليه فرمايي چې حيوان دې ووژل شي غوښه يې حلاله ده او تاوان يې پر جاني باندې دی

۶- په فاعل کې بايد شبهه نه وي: مخکې دا موضوع په تفصيل سره بيان شوې، چې هر وخت شبه منځته راشي حد ساقطيږي په اړوند مو د شبهو د اقسامو په اړه مخکې بحث کړی او د لته تر ښه صرف نظر کوو.

۷- د زنا په تحريم او عدم تحريم باندې علم لرل: په دې رابطه هم د فقهاو ترمنځ اختلاف دی، يوه ډله علما وايي حد پرې نشته دی او دا خکه که چيرې د يو کس څخه پدې باندې حد ساقط شي چې علم نه لري، نو بيا به هر سړی همدا ادعا کوي. چې ما ته پدې باندې علم نه و. ولې يوا خې د دوه نفرو دعوه صحيح ده يو ليونی چې جوړ شي او بل حربي چې مسلمان شي او سمدستي زنا وکړي د دغه دواړو څخه حد ساقطيږي. بله ډله علماء وايي که چيرې يو شخص د زنا په حرمت باندې علم و نه لري پر هغې باندې حد نه تطبيقيږي

۸- ښځه بايد ژوندۍ وي: که چيرې څوک د مړې ښځې سره زنا وکړي حد پرې نه تطبيقيږي، ولې يو تعداد علماء وايي چې حد پرې تطبيقيږي، خکه چې دوه جنايته يې کړي. يو دا چې زنا يې کړې او بل دا چې د مړي توهين يې کړی دی[1] او همدا صحيح خبره او د سليم فطرت او انسان کرامت تقاضا ده.

[1] الفقه الإسلامي وادلته جلد ۵۳۶۱ مخ

**دریم مبحث- د زنا د حد مجازات:**

د دې لپاره چې د زنا د حد د مجازاتو په اړه بهتره معلومات ترلاسه کړو او په مطالعې کې اسانتیا ولرو، نو لاندې عنوانونو باندې به رڼا واچوو: د زنا د حرمت تدریج ،د محصن پیژندنه، احصان شرایط، د محصن زاني مجازات د غیر محصن (بکر) زاني مجازات، د جلد او تبعید جمع کول، د رجم او جلد جمع کول. چې د ښه پوهیدو لپاره هریو جلا ، جلا وړاندې کوو.

**لومړی مطلب- د زنا تدریجي حر مت:**

علماء په دې عقیده لري چې د زنا حرمت او مجازات لکه د شرابو د حرمت په څیر په تدریج سره حرام شوي او ترتیب یې داوه چې لومړی حکم د زنا کارو سره یو اځې سخت ګیري کول وو، دویم حکم په کور کې بندي کول او دریم حکم یعنې نهایي حکم وو چې ۱۰۰ درې وهل او رجم څخه عبارت دی، هریو یې سره له دلیله روښانه کوو.

لومړی- د سخت ګیری حکم: لومړنی حکم چې د زنا د عقوبت په اړه راغی هغه د سخت ګیری حکم دی، لکه چې الله تبارک وتعالی د سورة النساء په ۱۲ ایت کې فرمایي:

وَ الَّذٰنِ يَأْتِيٰنِهَا مِنكُمْ فَاٰذُوْهُمَا ۚ فَاِنْ تَابَا وَ اَصْلَحَا فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمَا ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ۝

ژباړه: او کوم دوه (نارینه کسان) چې دا سې کار وکړي له تاسو نه، نو تکلیف ورسوي هغوی ته او که چیرې هغوی توبه وکړي او ځانونه یې اصلاح کړل، نو څنګ ترې وکړئ، بیشکه الله تبارک وتعالی ښه توبه قبلوونکی او ډېر مهربانه دی.[1]

ددې څخه وروسته دویم حکم نازل شو، چې د سورة النساء په ۱۵ نمبر ایت دی.

---

[1] تفسیر ابن کثیر ۲ جلد ۴ پاره ۱۵۰ مخ

**دویم پراګراف - په کور کې د بندي کولو حکم:**

دویم حکم په کور کې د بند حکم دی، چې د سورة النساء په ۱۵ ایات کې الله تبارک و تعالی فرمايي:

وَالّٰتِيْ يَاْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا عَلَيْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ ۚ فَاِنْ شَهِدُوْا فَاَمْسِكُوْهُنَّ فِي الْبُيُوْتِ حَتّٰى يَتَوَفّٰهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا ۝[1]

ژباړه: او څوک چې بد کاري وکړي ستاسي د ښځو څخه نو څلور سړي شاهدان راولئ د ستاسو د مسلمانانو له جملې څخه که چیرې څلور سړیو شاهدي وویله، نو دغه ښځې په کور کې ترهغې بندې کړئ چې مرګ یې مري کړي او یا الله تبارک و تعالی ورته کومه بله لاره برابره کړي[2]

د دې ایت څخه وروسته الله تعالی دریم حکم چې نهایي امر دی، استقرار وکړ، چې د سورة نور ۲ او ۳ نمبر ایاتونه او د رسول الله ﷺ احادیث دي

۱- الله جل جلاله په قرانکریم کې دا حکم رالیږلی دی

اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ ۪ وَّلَا تَاْخُذْكُمْ بِهِمَا رَاْفَةٌ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۚ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝

ژباړه: زنا کاره ښځه او زنا کار سړی هریو په سلو دُرو ووهئ او باید د الله تعالی د حکم د تطبیق په برخه کې پر هغوی زړه ونه سوزوئ که تاسې په الله جل جلاله او د قیامت په ورځ ایمان لرئ او د مومنانو یوه ډله باید د عذاب ورکولو ځای ته حاضر شي[3]

۲- واخرج مسلم عن عباده بن الصامت رضي الله عنه ان الرسول الله ﷺ قال

---

[1] القران الکریم سورة النساء ۱۵ نمبر ایات

[2] معارف القران ۲ جلد ۴ پاره. سورة النساء ۱۵ نمبر ایات

[3] د قرآنکریم تکي په تکي او روانه ترجمه ۵۵۸

((خذو عني قد جعل الله لهن السبيل البكر بالبكر جلد مائة و نفي سنة، والثيب بالثيب جلد مائة ورجم[۱]

ژباړه: رسول اکرم ﷺ فرمايي چې زمانه واخلي (احکام) الله جل جلاله د هغه ښځو او سړيو په هکله حکم راولېږه

که چېرې بکر (واده کړی) د بکر سره د دغه فعل مرتکب شي، هغوی لپاره سل درې او يو کال د ملک څخه شړل او که چېرې شامل په متاهل ددغه فعل مرتکب شي د هغوی لپاره سل دُرې په تيږو سنګسار دی

**دويم مبحث- د محصن پېژندنه :**

دې لپاره چې د محصن په اړه معلومات ترلاسه کړو، په درې عنوانو کې يې بايد ترمطالعي لاندې ونيسو:

لمړی پراګراف د محصن لغوي معنی ،دويم پراګراف د محصن اصطلاحي معنی او مفهوم ،درېيم پراګراف د احصان شرايط چې هريو جلا . جلا وړاندې کيږي

**لومړی پراګراف - د محصن لغوي معنی او مفهوم:**

۱-محصن په لغت کې منع ته وايي يا داچې په حصن او مامون ځای کې داخليدو ته وايي[۲]

د دې څخه علاوه په قرانکريم کې محصن په لاندې معناو سره راغلی دی محصن دحر په راغلي دي لکه چې الله جل جلاله په قرآنکريم سورة نساء ۲۵ ايت کې فرمايي:

فَإِذَآ أُحۡصِنَّ فَإِنۡ أَتَيۡنَ بِفَٰحِشَةٖ فَعَلَيۡهِنَّ نِصۡفُ مَا عَلَى ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ مِنَ ٱلۡعَذَابِ

۲-د عفيف (پاک) په معنی راغلی دی، لکه چې الله جل جلاله په قرآنکريم کې د سورة نور ۴ ايت کې فرمايي:

وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَآءُ
۳-د متاهل او واده په معنی راځي. سورة النساء ۲۴ ایت
وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ
۴-د وطی په معنی هم راځي لکه د محصنین غیر مسافحین[۱]

**دویم پراګراف - د محصن اصطلاحي معنی او مفهوم:**

محصن عبارت دی د ازاد، عفیف، متاهل، مکلف شخص څخه چې صحیح نکاح یې کړي وي او د نکاح څخه وروسته د خول هم صورت نیولی وي

دا لازمي او ضروري خبره نه ده، چې انزال شوی او که نه وی شوی[۲]

یادا چې واده کړی شوی شخص چې عفیف، ازاد عاقل او بالغ وي، خو د دي لپاره چې د محصن په اړه بهتر معلومات ترلاسه کړو نو لومړی یې په دوه برخو تقسیموو او وروسته یې شرایط مطالعه کوو.

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه فرمايي محصن په دوه ډوله دی، محصن درجم او محصن د قذف لـه مخې. د قذف پـه اړه بـه پـه خپـل ځای کې بحث وشي اوس ګورو چې د رجم د احصان لپاره کوم شرايط دي

دریيم پراګراف- د احصان شرایط:

داحصان شرایط په لاندې ډول دي:

۱-لومړی شرط دا دی چې محصن به عاقل او بالغ وي، کـه چیرې ماشوم یا لیونی وي محصن نه دی.[۳]

۲-حریت محصن هغه څوک دی چې ازاد وي غلام او وینځه محصن کیدای نه شي، دلیل یې د سورة النساء ۲۵ نمبر ایات دی چې مخکې درس کې ولوستل شو.

---

[۱] التشریع الجنایي ۲ جلد ۳۲۱ مخ
[۲] الفقه الاسلامي وادلته ۷ جلد ۵۳۲۲ مخ
[۳] الفقه علی مذهب الاربعه . ۵ جلد ۵۸ مخ

۳- د صحیح نکاح په صورت کې يې وطی کړی وي او که چیرې يې وطی نه وي کړي محصن نه دی، د دې وطي لپاره انزال شرط نه دی که انزال شوی نه وي بيا هم وطي ګڼل کيږي[۱]

که چيرې پورته شرايطو کې يو شرط هم موجود نه وي رجم نه تطبيقيږي او د جلد جزا تطبيقيږي.[۲]

کافر او مسلمان د حد په تطبيق کې برابر دي او کنه؟ يا دا چې کافر محصن دي او کنه؟

پدې هکله د فقهاوو ترمنځ اختلاف موجود دي

حنابله، شوافع، امام ابو يوسف رحمة الله عليه او امام قاسم رحمة الله عليه وايي محصن چې عاقل، بالغ او ازاد وي په دې شرط چې ترمنځ يې صحيح نکاح شوې وي کافر محصن ګڼل کيږي او په دې صورت کې کافر رجم کيږي[۳]

دليل يې دا حديث شريف دی، حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ يو يهودي او مسلمان رجم کړل[۴]

مالکيه، ابو حنيفه رحمة الله عليه امام محمد، امام يحيى، زيد بن علي او امام ناصر رحمة الله عليه وايي چې کافر محصن نه دی پدې معنی چې اسلام د احصان لپاره شرط دی، دلايل يې په لاندې ډول دي[۵]

۱ دليل: احصان فضيلت دی او فضيلت هغه وخت وي چې اسلام وي

۲ دليل: رسول الله ﷺ فرمايي چا چې د الله سره شريک پيدا کړ هغه محصن نه دی.

---

[۱] تشريع الجنايي الاسلامي ۲ جلد ۳۲۲ مخ
[۲] فقه الاسلامي وادلته ۷ جلد ۵۳۲۲ مخ
[۳] فقه السنة ۲ جلد ۳۲۹ مخ
[۴] رواه مسلم و احمد
[۵] فقه علی مذاهب الاربعه، ۵ جلد ۵۸ او ۵۹ مخونه فقه الاسلامي وادلته، ۷ جلد ۳۴۷ مخ

۳ دلیل: د حد د تطبیق په اساس خلک د ګناه څخه پاکیږي ولې کافر د دوزخ نه علاوه په بل شي باندې نه پاکیږي.[۱]

هغوی ورته وویل چې په تورات کې دا حکم دی چې مخ ورته تور کړو او تشهیر یې کړو.

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل، تاسې دروغ وایاست، ستاسې په تورات کې د دې جزا رجم دی. بیا رسول الله ﷺ ورته امر وکړ چې تورات راوړئ چې تاسې رښتیا وایاست، هر وخت یې چې تورات راوړ، هغه شخص چې تورات لوستلو باندې پوهیده هغه یې راوغوښت، تورات یې تلاوت کاوه، هر وخت چې د رجم حکم ته ورسیده په هغه ځای یې لاس کیښوده، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل، لاس لرې کړه سړي چې لاس لرې کړ، په صراحت سره یې لیکلي وو، چې د محصن زاني جزا رجم دی. هغه سړي رسول اکرم ﷺ ته وویل، په تورات کې د رجم حکم موجود و، خو موږ هغه په خپل منځ کې پټ کړی دی، نو د دې څخه وروسته حضرت محمد ﷺ د هغوی په باره کې د رجم حکم صادر کړ او هغه دواړه یې رجم کړل.

روایت کوونکی وایي چې ما په خپلو سترګو ولیدل چې هغه دواړه د تیږو د ټوټو لاندې پټ شول او ویې نه شو کړای خپلو ځانونو ته نجات ورکړ (رواه البخاری)[۲]

**دویم مطلب- د محصن زاني جزا :**

د ټولو علماو په اتفاق د محصن زاني جزا رجم دی چې د لایل یې په لاندې ډول دي:

۱- په قرآنکریم کې د سنګسارولو حکم موجود وو، چې اوس تلاوتاً منسوخ او حکم یې په خپل ځای وي

حضرت عمر رضی الله عنه فرمایي، چې الله جل جلاله د رجم ایات نازل کړی.

---

[۱] فقه علی مذاهب الاربعه ۵ جلد ۵۹ مخ.

[۲] الفقه الاسلامي و ادلته ۷ جلد ۵۳۴۷ مخ

(الشيخ والشيخة اذا ازينا فارجموها ) او په دې هکله دعلماوو اجماع هم ده.[1]

ابن حبان په خپل صحيح حديث کې د ابي بن کعب ﷺ څخه روايت کړی په سورت احزاب کې دغه ايات موجود وو.

ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چې حضرت عمر ﷺ خطبه ولوسته او په هغې کې يې داسې وفرمايل، الله تبارک و تعالی رسول اکرم ﷺ برحق مبعوث کړی دی او کتاب يې په هغه نازل شوی دی په هغه کې د رجم ايات موجود وو، ما په خپله هغه لوستی او خوندي کړی مو دی، رسول الله ﷺ رجم جاري کړی او زه به يې جاري کوم. زه ويريږم چې که چيرې وخت تير شي داسې خلک به پيدا شي او وبه وايي چې د خدای جل جلاله په کتاب (قران) کې رجم نشته او د دې فريضې په ترک به گمراه شي. رجم حق دی نر او ښځه چې متاهل وي، زنا وکړي شاهدان پرې شاهدي ووايي يا اقرار وکړي او يا يې حمل څرگند شي. په داسې حال کې چې ميړه يې نه وي يا دا چې جبر پرې نه وي شوی، رجم کيږي

قسم په الله جل جلاله که خلکو نه ويلی چې عمر ﷺ په قرآنکريم کې مطالب زيات کړي، دا ايات مبارک به ما په خپل لاس په قرانکريم کې نوشته کاوه.

دا حديث شريف مسلم، بخاري، ترمذي، ابو داود او نسايي روايت کړی دغه حديث شريف پته اجماع وايي، امام شوکاني په خپل کتاب نيل الاوطار کې داسې فرمايي، چې پر رجم باندې دامت اجماع ده.[2]

۲- د ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: لايحل دم امری مسلم الا باحد ثلاث: الثيب الزانی ، والنفس بالنفس، والتارک لدينه المفارق للجماعة.[3]

---

[1] الاختيار لتحليل المختار ۴ جلد . ۸۴ مخ
[2] فقه السنه ۲ جلد ۳۲۲ مخ
[3] لاربعين النوی، ۳۸ مخ. و مجمع الزوايد ۲ جلد ۲۵۲ مخ

رجم کړه. بیا یې وفرمایل. د الله ﷻ په حکم مو په ډزو ووهله او د رسول اکرم ﷺ په حکم مو رجم کړه

امام ابو حنیفه رحمه الله. امام شافعي رحمه الله او امام مالک رحمه الله فرمايي رجم او جلد نه جمع کیږي، یوازې رجم واجب دی او بس.

امام احمد رحمه الله فرمايي که جلد او رجم جمع نه شي بهتره ده او د خکه چې رسول اکرم ﷺ په حضرت ماعز، غامدیه او یهودانو باندې یوازې د رجم حکم کړی وه او په ډزو يې نه وو وهلي. همدارنګه حضرت انس ﷺ يې چې د هغې ښځې خواته ولیږه. نو هغه ته یې وفرمایل که اقرار یې وکړه رجم یې کړه. چې په دې ځای کې یې هم د جلد امر نه وو کړی

همدارنګه د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ او حضرت عمر فاروق ﷺ په وخت کې هم یوازې د رجم حکم شوی او تطبیق شوی او جلد ورسره نه دی تطبیق شوی

شاه ولي الله فرمايي دا د امام اختیار دی چې جمع کوي او که نه. خو مستحب خبره دا ده. چې جمع نه شي[1]

د لته یوه پوښتنه مطرح کیږي چې د زنا حد حقوق الله دي او که حقوق العباد دي؟

د زنا حد عفوه او شفاعت ځکه نه قبلوي چې د زنا حد خالص د الله تعالی د حقوقو څخه دی. په دې کې د خلکو عرض محفوظ ساتل کیږي او د بلې خوا نه عامه مصالح دي چې لاندې نتایج ترېنه لاسته راځي

۱ د زنا عفوه او شفاعت نه قبلوي

۲ د زنا حد چې شرایط یې پوره وي سقوط نه قبلوي

۳ د زنا حد سوله نه قبلوي

۴ د زنا حد واجب او لازم الاجراء دی

---

[1] فقه السنه، ۲ جلد ۳۶۹ مخ

[2] فقه السنه ۲ جلد ۳۷۰ مخ

رجم کړه، بیایې وفرمایل، د الله جل جلاله په حکم مو په دُرو ووهله او د رسول اکرم ﷺ په حکم مو رجم کړه.

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه، امام شافعي رحمة الله علیه او امام مالک رحمة الله علیه فرمايي رجم او جلد نه جمع کیږي، یواځې رجم واجب دی او بس[1]

امام احمد رحمة الله علیه فرمايي که جلد او رجم جمع نه شي بهتره ده او دا ځکه چې رسول اکرم ﷺ په حضرت ماعز، غامدیه او یهودانو باندې یواځې د رجم حکم کړی وه او په دُرو یې نه وو وهلی. همدارنګه حضرت انس رضي الله عنه یې چې د هغې ښځې خواته ولیږه، نو هغه ته یې وفرمایل که اقرار یې وکړه رجم یې کړه، چې په دې ځای کې یې هم د جلد امر نه وو کړی.

همدارنګه د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه او حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په وخت کې هم یواځې د رجم حکم شوی او تطبیق شوی او جلد ورسره نه دی تطبیق شوی

شاه ولي الله فرمايي دا د امام اختیار دی چې جمع کوي او که نه، خو مستحب خبره داده. چې جمع نه شي[2]

د لته یوه پوښتنه مطرح کیږي چې د زنا حد حقوق الله دی او که حقوق العباد دی؟

د زنا حد عفوه او شفاعت ځکه نه قبلوي چې د زنا حد خالص د الله تعالی د حقوقو څخه دی، په دې کې د خلکو عرض محفوظ ساتل کیږي او د بلې خوا نه عامه مصالح دی چې لاندې نتایج ترې نه لاسته راځي.

۱ د زنا عفوه او شفاعت نه قبلوي

۲ د زنا حد چې شرایط یې پوره وي سقوط نه قبلوي

۳ د زنا حد سوله نه قبلوي.

۴ د زنا حد واجب او لازم الاجراء دی.

که چیرې سړی یو ځل زنا وکړي او حد پرې تطبیق شي که د حد د تطبیق نه وروسته بیا زنا وکړي حد پرې تطبقیږي[1]

**څلورم مبحث: د زنا د حد ثبوت وسایل**

د زنا حد د لاندې وسایلو په اساس ثابتیږي، شاهدان، اقرار او د هغې ښځې حمل څرګند بدل. چې میړه و نه لري او جبر پرې نه وي شوی، په دې ټولو د ښه پوهیدو لپاره هریو بیل بیل مطالعه کوو.

**لومړی مطلب - د زنا د حد ثبوت د شاهدانو په وسیله:**

د نورو جرایمو په خلاف د زنا د حد د ثبوت لپاره څلور شاهدان دي او دا ځکه چې د زنا جرایم ډېر خطرناک او وخیم وي او مجازات یې هم شدید دي، خو د دې لپاره چې پدې اړه غوره معلومات ترلاسه کړو، لاندې دوه. عنوانونو باندې به رڼا واچوو: لومړی د شاهدانو تزکیه او دوهم د شاهدانو شرایط

**لومړی- د شاهدانو تزکیه :**

قاضي به د دې شاهدانو د عدل په باره کې تحقیق کوي، که چیرې شاهدان ظاهراً او باطناً عادلان وو؛ نو د هغوی په شاهدۍ به حکم کوي، تحقیق به داسې کوي

هر وخت چې محکمې ته شاهدان راوستل شي، نو قاضي باید د هغې محلې او کلي خلکو څخه چې شاهدان پیژني په لیکلي ډول تزکیه وغواړي، هر وخت چې د دغه کلي او محلې خلکو د شاهدانو تزکیه وکړه، چې دا پټه تزکیه شوه د دې څخه وروسته به قاضي هغه خلک چې دشاهدانو تزکیه یې کړې ده راوغواړي او هغه کسان چې شاهدي ورکوي هغه به هم راوغواړي او دواړه به سره مخامخ کړي او ورته به ووایي چې تاسې د دغه کسانو تزکیه کوئ که چیرې مخامخ یې هم تزکیه وکړه، نو

بيا يې قاضي ته شهادت اعتبار لري او دا يې ښكاره تزكيه شو. دلته يوه پوښتنه پيدا كيږي، كه چيرې قاضي خپله دغه شاهدان پيژني بيا يې هم تزكيه ضروري ده؟ د دې ځواب دا دې چې كه چيرې قاضي شاهدان پيژني بيا يې د نورو خلكو تزكيې ته ضروت نشته.[1]

**دويم- د شاهدانو شرايط :**

علماوو د شاهدانو لپاره يو لړ شرايط ټاكلي. كه چيرې دغه شرايط موجود وو د شاهدانو شهادت اعتبار لري او كه د دغه شرايطو څخه يو هم موجود نه و، د زنا د حد د ثبوت لپاره هغه شهادت اعتبار نه لري، هغه شرايط په لاندې ډول دي:

۱-عقل: څوك چې شهادت وركوي هغه به عاقل وي. كه چيرې د ليوني له خوا شهادت وركول شي اعتبار نه لري.

۲-بلوغ: هر څوك چې شهادت وركوي بايد بالغ وي او كه صغير وي شهادت يې اعتبار نه لري[2]

د ليل يې د سورة بقرې ۲۸۲ نمبر ايات دی چې الله تبارك و تعالى فرمايي:

وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِن رِّجَالِكُمْ

دلته ذكر د رجالكم راغلى چې رجل نه مطلب سړی دی او د سړي اطلاق په بالغ باندې كيږي.

همدارنګه په حديث شريف كې هم دا خبره ثابته شوې چې حديث شريف مخكې يو ځل بيان شوی دی.

۳- د شاهدانو شمير: د زنا د حد د ثبوت لپاره څلور شاهدان شرط دي او كه د څلورشاهدانو څخه يو شاهد هم كم شي شهادت يې نه قبليږي[3] او دا ځكه چې الله جل جلاله په قرآنكريم كې فرمايلي:[4]

---

[1] حنفي فقه، ۲ جلد ۳۰۲ او ۳۰۳ مخونه

[2] الفقه الاسلامي وادلته ۷ جلد ، ۵۳۷۳ مخ

[3] الفقه الاسلامی و ادلته ، ۷ جلد ۵۳۷۳ مخ

[4] القران آلكريم سورة نسا،۵۱ نمبر ايات



فَاسْتَشْهِدُوْا عَلَيْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ [1]
او په بل ځای کې فرمايي:
ثُمَّ لَمْ يَأْتُوْا بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ [1]
اوس دلته يوه پوښتنه مطرح کيږي، که د دغه شاهدانو تعداد د څلورو څخه کم شي په دغه شاهدانو باندې دقذف حد تطبيق کيږي او کنه؟.
پدې رابطه د علماوو ترمنځ اختلاف دی.
احناف، امام احمد رحمة الله عليه او امام مالک رحمة الله عليه فرمايي په دغه درې وارو باندې دقذف حد تطبيقيږي. ځکه چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په هغه درې کسانو باندې چې په مغيره رضي الله عنه باندې شاهدي ويلې وه، دقذف حد تطبيق کړ.
هغه درې کسان ابوبکره. نافع او شبل ابن معبد رضي الله عنه دي دامام شافعي رحمة الله عليه د مذهب او امام ابو حنيفه رحمة الله عليه د مذهب ځنې پيروان او د ظاهريه مذهب والاوايي په دغو درې کسانو دقذف حد نشته، ځکه چې دې درې وارو خو شاهدي ورکړې ده. دوی هدف هم شاهدي وه، قذف نه و.[2]
۴- د شاهدانو عدالت: هر هغه څوک چې شهادت ورکوي دوی بايد عادلان وي او که عادلان نه وي شهادت يې نه قبليږي، ټول علماء په دې اتفاق لري.
لکه چې الله جل جلاله په قرآنکريم کې فرمايي:
وَّاَشْهِدُوْا ذَوَیْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ
همدارنګه په بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي:
يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْۤا
د عدالت په تعريف کې علماء اختلاف لري

[1] القران الکريم سورة نور ۴ نمبر ايات
[2] فقه الاسلامي وادلته ۷ جلد ۵۳۷۳ مخ،
فقه السنه ۲ جلد ۳۷۴ مخ

مالکيان عدالت داسې تعريفوي، عادل هغه څوک دی چې د دين پابند او محافظ وي، د کبيره ګناهونو څخه اجتناب وکړي او د صغيره ګناهونو څخه ځان وساتي، امانت داره وي. د خلکو سره نيکه معامله وکړي.

احناف وايي عادل هغه څوک دی چې په اسلام باندې استقامت ولري (ټول اسلامي اوامر په ځان ومني او عملي يې کړي) د نفسي خواهشاتو مقابله او مبارزه وکړي او د عقل اعتدال ولري.

حنابله يې داسې تعريفوي، عادل هغه څوک دی چې په خپل دين، اقوالو، افعالو او همدارنګه په اصولو اعتدال ولري[1]

۵-اسلام: د کافر شهادت په اهل اسلام باندې قابل د قبول نه دی، دليل يې د قرآنکريم دا ايت کريمه دی:

وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ.

او په بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي: وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِنْكُمْ، په دغه دواړو اياتونو کې اشاره شوې، چې شاهدان ستاسې د سړيو څخه او د عدل خاوندان ستاسې له منځه، په دواړو کې ستاسې لفظ ذکر شوی، چې مطلب ترېنه مسلمين دي[2]

۶-تصريح: د دې نه مطلب دادی چې د لته به ايلاج (ديو شي په بل شي کې ننويستو ته وايي) منځته راغلی وي د کنايې په شکل نه وي.

۷- د مجلس اتحاد: امام ابو حنيفه رحمة الله عليه فرمايي د شهادت ورکولو په وخت کې بايد ټول شاهدان يو ځای وي، که چيرې متفرق راشي شهادت يې نه صحيح کيږي مګر نور فقها وايي چې د مجلس اتحاد شرط نه دی.[3]

۸- د مشهود اتحاد: دغه څلور واړه شاهدان چې د کومې موضوع په رابطه شهادت ورکوي دا به مکان، زمان او فعل له مخې يو وي او کوم اختلاف به نه لري[1]

---

[1] فقه سنة ۲ جلد ۳۷۴ مخ

[2] فقه الاسلامي والته ۷ جلد ۵۳۷۳ مخ

[3] فقه السنه ۲ جلد، ۳۷۴ مخ

۹- ذکوريت: د ښځو شهادت قابل د قبول نه دی، ځکه چې څرنګه ضرورت وي ښځه په هغه شکل سره شهادت نه شي ورکولی، ابن حزم رحمة الله عليه وايي که څلور نارينه نه وي، نو درې نارينه او دوه ښځې، که داسې نه وي دوه نارينه او څلور ښځې، که داسې هم ونه شي يو نر او شپږ ښځې او که هيڅ نر موجود نه وي اته ښځې چې شهادت ورکړي، شهادت يې اعتبار کړي[2]

۱۰- معاينه: معاينې څخه مطلب دادی چې شاهدانو به دغه واقعه داسې ليدلې وي لکه سلايي په کځوړه کې يا بوکه په کوهي کې.

۱۱- اصالت: يعنې شهادت په شهادت نه قبليږي، د دې نه هدف دادی چې څوک شهادت ورکوي هغه به دغه عملي پيښه په خپله ليدلې وي، د چا څخه به يې نه وي اورېدلې.

۱۲- د ګونګي شهادت نه قبليږي.

۱۳- تقادم (عدم مرور زمان): امام ابو حنيفه رحمة الله عليه فرمايي چې شهادت باندې به وخت نه وي تير شوی او که په شهادت ورکولو وخت تير شي بيا شهادت ورکول صحيح نه دی، ځکه چې د لته شبهه منځته راځي، د شهادت ورکولو په کله شاهد اختيار لري چې شهادت ورکوي او که پرده پوشي کوي، البته په حقوق الله کې.

که چيرې شاهد په اول وخت کې د پرده پوشۍ امر قبول کړي او د وخت تيرېدو څخه وروسته بيا شهادت ورکوي دا په دې باندې دلالت کوي چې د نوموړي شخص سره يې کينه او عداوت پيدا شوی او دا شبهه منځته راوړي دليل يې دادی، حضرت عمر ﷺ فرمايي که په اول وخت کې شهادت ور نه کړي او وخت پرې تير شي بيا يې شهادت قابل د قبول نه دی.

---

[1] فقه السلامي وادلته، ۷ جلد ۵۳۷۴ مخ
[2] فقه السنه ۲ جلد ۳۷۴ مخ

او نور مذاهب، ( مالکیه، حنابله او شوافع ) وایي د پیښې نه وروسته د ډېر وخت په تیرېدو سره هم شهادت ورکولی شي.[1]
۱۴ - مشهود علیه به د زنا کولو قدرت ولري او که د زنا کولو قدرت ونه لري یعني عنین یا مقطوع اله وي او څوک یې په ضد شهادت ورکړي چې زنا یې کړېده، دغه شهادت اعتبار نه لري.
۱۵ - شاهدان به د شهادت ورکولو په وخت کې د اهلیت بقا ولري یعني هر وخت چې شهادت ورکوي ړوند شوی به نه وي. غایب به نه وي، مرتد شوی به نه وي د قذف حد به پرې تطبیق شوی نه وي او مړ شوی به هم نه وي.[2]

**دویم مطلب- د زنا د حد ثبوت داقرار په واسطه:**

د زنا د حد د ثبوت لپاره له وسایلو دویمه وسیله اقرار دی. په دې موخه چې په موضوع ښه پوه شو، لاندې موضوعاتو باندې په ډېر لنډ ډول بحث کوو، یو دا چې د زنا د حد دثبوت لپاره څو ځله اقرار شرط دی؟ دویم دا چې اقرار نه په ګرځیدو باندې حد ساقط کیږي او کنه؟ په دریم قدم کې به د اقرار شرایط مطالعه کړو.

**لومړی موضوع- څو ځله اقرار باندې حد ثابتیږي؟**

د زنا د ثبوت د وسایلو څخه یوه وسیله اقرار دی، په دې اړه ټول علماء اتفاق لري، چې دلایل یې په لاندې ډول دي:
۱- رسول اکرم ﷺ په مسجد کې ناست وو، چې حضرت ماعز ﷺ راغی او ویې ویل ای د خدای ﷻ رسوله ﷺ ما زنا کړې ده.
رسول الله ﷺ ترینه مخ واړاوه، ماعز ﷺ یې هغه بل طرف ته راتاو شو او ورته یې وویل، ما زنا کړې ده، رسول الله ﷺ ترینه بیا مخ واړاوه، هغه د

---
[1] فقه علی مذهب الاربعه، ۵ جلد ۷۳ مخ
[2] فقه الاسلامی وادلته، ۷ جلد ۵۳۷۵ مخ

غه کار څلور ځله تکرار کړ، يعنې څلور ځله يې په خپل ځان شاهدي وويله، رسول اکرم ﷺ ورته وفرمايل چې ايا ته ليونی يې؟ هغه وويل. نه، بيا ترې رسول اکرم ﷺ پوښتنه وکړه چې واده دې کړی دی، هغه وويل هو. بيا رسول الله ﷺ وفرمايل چې رجم يې کړی.[1]

۲- رسول اکرم ﷺ حضرت انس رضي الله عنه ته وفرمايل چې لاړ شه هغه ښځې ته که اقرار يې وکړ رجم يې کړه.[2]

د پورته دلايلو او ځنو نورو دلايلو موجوديت دی چې ټول علماوو پدې اړه اتفاق کړی، چې اقرار د زنا د حد د ثبوت وسيله ده، ولې په دې خبره دعلماوو ترمنځ اختلاف دی چې، اقرار به څو ځله وي.

امام مالک رحمة الله عليه، امام شافعي رحمة الله عليه، داود رحمة الله عليه، طبري رحمة الله عليه او امام ابو ثوری رحمة الله عليه وايي چې د زنا د حد د ثبوت لپاره يو ځل اقرار کفايت کوي، دليل[3] يې دا لاندې حديث شريف دی.

حضرت رسول اکرم ﷺ چې حضرت انس رضي الله عنه ته وفرمايل چې لاړ شه هغه ښځې ته که اقرار يې وکړ رجم يې کړه.[4] علماء وايي چې حضرت انس ته يې ونه ويل چې که څلور ځله اقرار يې وکړ رجم يې کړه.

احناف وايي څلور ځلې په څلورو مختلفو مجالسو کې بايد اقرار وکړي، دليل يې د حضرت عمر رضي الله عنه واقعه ده چې حديث شريف مخکې درس کې بيان شو.

د امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه مذهب او امام اسحاق رحمة الله عليه هم د احنافو رائه تايدوي، خو په يو تفاوت سره او هغه دا چې که اقرار په يو مجلس کې وي او که جلا، جلا مجالسو کې وي، پروا نه کوي.[5]

---

[1] احکام الاحکام ۴ جلد ۱۱۲۵ مخ رواه مسلم و بخاري

[2] احکام الاحکام ۴ جلد ۱۱۰ مخ ( رواه بخاري )

[3] فقه السنه ۲ جلد ، ۳۷۱ مخ

[4] احکام الاحکام ۴ جلد ، ۱۱۰ مخ

[5] فقه الاسلامي وادلته ۷ جلد ، ۵۳۸۳ مخ

**دویمه موضوع- د اقرار څخه رجوع :**

که چیرې یو سړی د قاضي په وړاندې اقرار وکړي، خو د حد د تطبیق نه مخکې یا د تطبیق په وخت، همدارنګه د حکم نه مخکې. یا د حکم په وخت کې او یا دا چې د حکم نه وروسته د خپل اقرار نه رجوع وکړي، امام ابو حنیفه، امام شافعي او احمد رحمة الله علیه وایي چې د دغه شخص رجوع قبلیږي[1]

چې دلیل یې د حضرت ماعز رضي الله عنه واقعه ده.

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی. کله چې یې ماعز رضي الله عنه رجم کاوه، د تیږو د ویشتو نه وروسته حضرت ماعز منډه کړه. یو بل نفر چې په لاس کې د اوښ د ملا غښتې هډوکی نیولی و. هغه یې حصار کړ او ورته یې وویل، پریږده چې د تیږو په ویشتو ووژل شي.

دغه واقعه چې کله رسول اکرم ﷺ ته لاړه نو ویې فرمایل چې پریښی به مو وای،[2] او په بل روایت کې راغلي چې ماته به مو راوستی وای

د لته یوه پوښتنه پیدا کیږي. که یو سړی اقرار وکړي او ښځه انکار وکړي په دې صورت کې په ښځه او که پر نر باندې حد تطبیق کیږي. دغه ډول د زنا حد تطبیق کیږي او که د قذف حد؟

خواب دا دی، که سړی اقرار وکړي او ښځه انکار وکړي په دې صورت کې په سړي باندې حد تطبیق کیږي او په ښځه نه.

دلیل یې دا حدیث شریف دی.

د حضرت سهیل بن سعد رضي الله عنه څخه روایت دی چې یو سړی رسول اکرم ﷺ ته راغی او ورته یې وویل د فلانۍ سره مې زنا کړې ده، د هغه ښځې نوم یې هم واخیسته، رسول اکرم ﷺ هغه ښځه راوغوښته او پوښتنه یې ترې وکړه، هغې ښځې انکار وکړ. رسول اکرم ﷺ پر سړي باندې حد تطبیق کړ او هغه ښځه یې خوشې کړه دا حدیث شریف امام احمد او ابو داود

---

[1] فقه الاسلامي والته ۷ جلد. ۵۳۸۳ مخ المغنی ۸ جلد ۱۹۷ مخ

[2] سبل الاسلام ۴ جلد ۸ مخ

روایت کړی، دا چې د قذف حد تطبیق کیږي که د زنا په دې اړه فقهاو ترمنځ اختلاف دی.[۱]

امام شافعي او امام مالک رحمة الله علیه فرمایي په دې سړي باندې د زنا حد تطبیق کیږي او دا ځکه چې په زنا باندې یې اقرار کړی دی.

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه او امام اوزاعي رحمة الله علیه وایي چې د قذف حد تطبیق کیږي، ځکه د ښځې انکار د زنا په حد کې شبهه راولي او د زنا حد ساقطیږي

هادویه، محمد او امام شافعي رحمة الله علیه وایي چې د قذف حد او زنا حد دواړه تطبیق کیږي، دلیل یې دا حدیث شریف دی.

د ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی.

د بکر بن لیث د قبیلې یو سړی راغی او رسول الله ﷺ ته یې څلور ځلې اقرار وکړه چې د فلانۍ ښځې سره مې زنا کړې ده، رسول اکرم ﷺ هغه ۱۰۰ دُرې وواهه، د دې نه وروسته یې شاهدان ښځې ته ولیږل، ښځې وویل ای د خدای جل جلاله رسوله ﷺ دغه سړی دروغ وایي، هغه سړی رسول الله ﷺ ۸۰ دُرې نور هم وواهه (د قذف حد یې پرې تطبیق کړ).[۲]

**دریمه موضوع - د اقرار شرایط :**

کله چې څوک د زنا اقرار کوي، اقرار کوونکی باید لاندې شرایط ولري او که چیرې د دغه شرایطو څخه یو هم موجود نه وي بیا اقرار د جرم د ثبوت وسیله نه ګڼل کیږي، هغه شرایط دادي:

۱- عقل: اقرار کوونکی به لیونی نه وي

۲- بلوغ: اقرار کوونکی به ماشوم نه وي

۳- اختیار: په اقرار کوونکي به جبر نه وي شوی

---

[۱] فقه علی مذاهب اربعه، ۵ جلد ۸۷ مخ

[۲] فقه السنه ۲ جلد ۳۷۳ مخ

۴-اقرار: به څلور ځلې وي، که يو ځل اقرار وکړي احناف وايي حد پرې نه تطبيق کيږي.
۵- د اقرار مجالس به مختلف وي، هر څوک چې څلور ځله اقرار کوي دا به هم په جلا جلا مجالسو کې وي چې دا نظر هم د احنافو دی.
۶-اقرار کوونکی به په هوش وي. که د نيشې په حالت کې څوک اقرار وکړي اعتبار نه لري.
۷-اقرار کوونکی به د زنا کولو قدرت ولري. که چيرې څوک د زنا کولو قدرت ونه لري او اقرار وکړي حد پرې نشته دی لکه مقطوع اله.
۸-اقرار به د قاضي په وړاندې وي[1]

**دريم مطلب: د حمل څرګندېدل**

احناف، امام شافعي رحمة الله عليه او امام احمد رحمة الله عليه فرمايي چې په مجرد حمل څرګندېدلو باندې حد نه ثابتيږي، ترڅو چې شاهدان شاهدي ونه وايي يا دا چې اقرار کوونکی اقرار ونه کړي.
دليل يې په لاندې ډول دی.
۱- ادروء الحدود بالشبهاة الحديث، دويم دليل يې دا حديث شريف دی.
حضرت علي ﷺ ته يوه ښځه راوستل شو، نو ورته ويې ويل په تا باندې جبر شوی دی، هغې وويل، نه، حضرت علي ﷺ ورته وويل، شايد څوک په خوب کې درته راغلی وی، هغې ښځې وويل زما خوب درُوند دی او شايد (کيدای شي) څوک راته په خوب کې راغلی وي، حضرت علي ﷺ د دې ښځې دغه ادعا قبوله کړه او حد يې پرې تطبيق نه کړ.[2]

---

[1] تحفة الفقها ۳ جلد ۲۷۸ مخ، الاختيار ۴ جلد ۸۲ مخ، فقه على مذهب الاربعه ۵ جلد ۸۲ مخ، تشريع الجنايي ۲ جلد ۳۵۷ - ۳۶۳ مخونه، فقه الاسلامي وادلته ۷ جلد ۵۳۷۸ مخ

[2] فقه السنه ۴ جلد، ۳۷۲ مخ

امام مالک او یاران یې وایي چې د ښځې میړه ثابت معلوم نه وي او اکراه پرې ثابت شوی نه وي د حمل په اساس حد ثابتیږي او پر ښځه باندې هغه وخت نه ثابتیږي چې د میړه ادعا وکړي او هغه ثابته کړي یا دا چې دا اکراه ادعا وکړي او هغه ثابته کړي یعنې قرائن او علایم باید معلوم وي دلیل د حضرت عمر ﷺ څخه روایت شوی حدیث شریف دی.

په نرانو او ښځو چې د محصن وي رجم واجب دی، په هغه صورت کې چې شاهدان ، حمل او یا اقرار موجود وي

همدارنګه حضرت علي ﷺ فرمایي:

ای خلکو زنا په دوه قسمه ده. پټه زنا او ښکاره زنا، پټه زنا هغه ده چې په هغې شاهدان موجود وي یا دا چې شاهدان شهادت ورکړي، نو په دې صورت کې اولین شخص شاهد دی چې رجم اجراء کړي او ښکاره زنا هغه ده چې حمل یې څرګند شي او یا دا چې اقرار وکړي[1]

په دې اړه یوه پوښتنه راولاړیږي. که د یوې ښځې د واده په شپږمه میاشت ماشوم تولید شي په دغه ښځې باندې د زنا حد تطبیق کیږي او کنه ؟

ځواب: که د یوې ښځې د واده په شپږمه میاشت ماشوم تولد شي، په دغه ښځه باندې حد نه تطبیق کیږي

امام مالک رحمة الله علیه فرمایي چې د حضرت عثمان بن عفان حضور ته یوه ښځه راوستل شوه چې د واده په شپږمه میاشت یې ماشوم تولد شوی وو، حضرت عثمان بن عفان ﷺ په هغې ښځې د رجم حکم وکړ. حضرت علي ﷺ وفرمایل چې په دغه ښځه باندې حد نه تطبیق کیږي او دا ځکه

---

[1] شرح درقاني، ۸ جلد ۸ مخ. التشریح الجنایي ۲ جلد

چې الله تبارک وتعالی په قرآنکريم کې فرمايي وحمله وفصاله ثلاثون شهرا[۱]

ژباړه: د حمل موده او ماشوم ته د شيدو ورکولو موده ديرش مياشتې دي

او د سورت بقرې ۲۳۳ نمبر ايات کې فرمايي:

وَالْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ[۲]

ژباړه: مورګانې بايد خپلو ماشومانو ته پوره دوه کاله شيدې ورکړي او دا د هغې کسانو لپاره چې غواړي د رضاع موده پوره کړي.

د دغه ايات مبارک څخه معلوميږي چې د حمل موده شپږ مياشتې ده، ځکه چې ۲۴ مياشتې د شيدو موده شوه. چې دواړه ۳۰ مياشتې کيږي نو اوس که د ۳۰ مياشتو څخه ۲۴ مياشتې د شيدو لپاره منفي کړو ۶ مياشتې پاتې کيږي، د همدې دليل په اساس د حمل موده شپږ مياشتې ده.

حضرت عثمان ﷺ د حضرت علي ﷺ دغه خبره قبوله کړه.[۳]

[۱] شريح زرقانی ۸ جلد . ۸ مخ ،التشريع الجنا يی ۲ جلد ۳۲۵ فقه سنه ۲ جلد ۳۷۲-
۳۷۸ مخ

[۲] القرآنکريم ، سورة بقره ۲۳۳ نمبرايات.

[۳] فقه السنه ۲ جلد ۳۷۷ او ۳۷۸ مخونه

## دریيم څپرکی
## د قـــذف حـــد

په اسلامي شريعت کې د ټاکلو مجازاتو څخه يو هم د قذف مجازات دي، چې پدې فصل کې موږ د قذف حد تر مطالعې لاندې نيسو، مګر د دې لپاره چې د قذف حد په اړه بهتره معلومات ترلاسه کړو لاندې مسايلو باندې بايد بحث وکړو.
د قذف پيژندنه، د قذف حرمت او مجازات، د قذف صفت، د قذف د ثبوت وسايل او د قذف شرايط. دا ټول به يو يو وڅيړو.

**لومړی مبحث- د قذف پيژندنه:**
د دې لپاره چې په دې مطلب باندې رسيدلي يو، دغه موضوعات جلا جلا لولو، د قذف لغوي معنی، د قذف اصطلاحي معنی او مفهوم، د قذف اقسام او د قذف په اړه څو پوښتنې او ځوابونه.

**لومړی مطلب- د قذف لغوی معنی او مفهوم :**
قذف په لغت کې ويشتلو ته وايي، اصلاً د تيږو وويشتلو لپاره استعماليږي، خو پدې ځای کې د بدو شيانو (الفاظو) ويشتلو ته ويل شوی دي، ځکه د بدو الفاظو ويشل او د تيږو ويشتل يو د بل سره شباهت لري او هغه دا چې د بدو الفاظو ويل يا ويشتل او د تيږو ويشتل دواړه انسان ته اذيت او تکليف رسوي څرنګه چې د دواړو مشترکه وجهه اذيت او تکليف رسول دي، نو په همدې خاطر بدو ويلو ته قذف وايي[1]

د دې پورته توضيح څخه معلومېږي چې د ژبې زخم د لاس د زخم سره برابر دی.[1]

ژباړه: يعني په داسې شي سره يې وويشتم چې زه، زما مور او پلار د هغې څخه بيزاره يو.[2]

### دويم مطلب - د قذف اصطلاحي معنی او مفهوم:

چا ته د زنا نسبت کول او يا د چا نسبت کولو ته قذف وايي.[3]

امام مالک رحمة الله عليه وايي که يو عاقل بالغ شخص له خوا بل عاقل، بالغ ازاد، عفيف او مسلمان شخص ته د زنا نسبت وشي او يا ورته د نسب نفی وکړي.[4]

### درېيم مطلب - د قذف اقسام:

امام ابو حنيفه رحمة الله عليه وايي چې قذف په دوه ډوله دی صريح قذف او جاري مجراء صريح قذف، يا د صريح په ځای قذف، دواړه ډولونه لاندې مطالعه کوو:

لومړی - صريح قذف:

صريح قذف عبارت د هغې قذف څخه دی چې يو شخص بل شخص ته په صريح او ښکاره توګه د زنا نسبت وکړي يا په بل عبارت د زنا تور لګول چې د هر قسم شبهې څخه پاک وي لکه چې يو سړی بل ته ووايي چې تا زنا کړې ده، ته زناکارې او نور، نو په دې صورت کې به دغه شخص شاهدان راولي او يا دا چې دغه نوموړی شخص به په زنا باندې اقرار

---

[1] ايات الاحکام، الصابوني، ۲ جلد ۵۷ مخ ۱۹۸۸ م کال

[2] القرطبي ۱۲ جلد ۱۷۲ مخ

کوي، که چیرې شاهدان موجود وو یا دا چې شخص په خپل جرم اعتراف وکړ د زنا حد ثابت او پر نوموړي سړي باندې د زنا حد تطبيق کيږي او که چيرې د دغه لفظ استعمال شاهدان رانه وستل او همدارنګه چاته چې لفظ استعمال شوی هغې په خپل جرم اعتراف ونه کړ د دغه لفظ په استعمالوونکی باندې د قذف حد تطبيق کيږي چې هغه اتيا دُرې دي.

دويم - جاري مجرا صريح قذف: د يو شخص د نسب د نفې کولو څخه عبارت دی[1] لکه چې يو سړی بل سړي ته ووايي چې ته د فلاني زوی نه يې، يا دا چې فلانی ستا پلار نه دی، دا جاري مجراء د صريح قذف شو او که چيرې څوک چاته ووايي چې ته دې د مور څخه نه يې دا قذف نه دی، ځکه چې د مور نسب نه نفې کيږي او د پلار نسب ځکه نفي کيږي، چې دا پدې دلالت کوي چې مور يې زنا کړې ده.[2]

**دويم مبحث - څو پوښتنې او ځوابونه:**

لومړۍ پوښتنه - که چيرې څوک چاته ووايي چې ته د فلاني زوی يې په داسې حال کې چې هغه يې تره يا ماما وي دا قذف دی او کنه؟

يا دا چې په دې د قذف حد تطبيق کيږي او کنه؟

احناف وايي چې دا قذف نه دی، ځکه په قرآنکريم کې تره او ماما د پلار په ځای هم راغلي دي لکه چې الله تبارک وتعالی په قرانکريم کې فرمايي:

﴿قَالُوا نَعْبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ﴾[3]

ژباړه: کله چې يعقوب عليه‌السلام خپل زامن راجمع کړه او ورته يې وويل چې زما د وفات څخه وروسته به تاسې د چا عبادت کوئ، ځامنو يې ورته په ځواب کې وويل چې موږ به عبادت کوو ستا د رب او ستا د پلرانو د رب

---

[1] المبسوط ۹ جلد ۱۱۹ مخ ،حاشيه ابن عابدين، ۳ جلد ۱۸۵ مخ

[2] فقه الاسلامي وادلته ۷ جلد ۵۳۹۸ مخ

[3] آ...

چې هغه ابراهیم او اسماعیل عليه السلام او حال دا چې اسماعیل عليه السلام د
یعقوب عليه السلام تره وو او د پلارانو په جمله کې یې حساب کړ.[۱]
بل دلیل- کله چې حضرت یعقوب عليه السلام مصر ته لاړ هغه قصه ده.
چې الله تعالي فرمايي:
(وَرَفَعَ اَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ)[۲]
په ایت کریمه کې ذکر شوي چې (ابویه) مور او پلار د هغې په داسې حال
کې چې د یوسف عليه السلام پلار یعقوب عليه السلام او بل یې خاله (ترور) وه او
ترور ته د مور خطاب وشو.
۲ پوښتنه - که چیرې د جګړې په وخت کې چا دا خبره وکړه بیا قذف دی او
کنه؟
ځواب یوه ډله علماء وايي چې حد پرې تطبیق کیږي او بله ډله علما وايي
چې حد پرې نه تطبیق کیږي، اضافي تشریح څخه صرف نظر کوو.
دریمه پوښتنه - که چیرې یو شخص بل ته داسې الفاظ ذکر کړي چې
مشترک د دوو یا څو معنی ګانو وي یا دا چې څو احتماله ولري، دا قذف
دی او کنه؟
د مثال په ډول یو شخص بل ته ووايي چې زه خو زاني نه یم یا ووايي چې
زما مور خو زنا کاره نه ده.
احناف وايي چې که چیرې څوک چا ته د کنایې په الفاظو د قذف اشاره
وکړي قاذف نه دی، ځکه چې د کنایې الفاظ خفیف اذیت دی نسبت
صراحت ته، څرنګه چې دا په منزلت د کنایې دی نو قذف پکې احتمال شو
او هر وخت چې قذف احتمال شو شبهه منځته راځي او چې کله شبهه
منځته راشي حد ساقطیږي، په دې اړه مو مخکې څو احادیث مبارکه هم
لوستي دي.
امام مالک رحمة الله عليه وايي دا قذف دی د لیل یې دادی:

۳- إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ
فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ[1]

ژباړه: هغه کسان چې خوښوي چې غواړي په مومنانو کې فحاشي خپره کړي دوی لپاره په دنيا او اخرت کې عذاب دی.

رسول الله ﷺ په يو حديث شريف کې فرمايي:

ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل

**اجتنبو السبع الموبقاة قالو يا رسول الله ﷺ ماهن؟ قال اشرک بالله و اکل الربوا، و اکل مال اليتم والتولی يوم الزحف، وقذف والسحر وقتل النفس التی حرم الله محصناة المومناة الغافلاة.**[2]

ژباړه: رسول الله وفرمايل چې د ۷ هلاکوونکو شيانو څخه ځان وساتئ صحابوو. پوښتنه وکړه. چې ای د خدای ﷻ رسوله هغه کوم شيان دي رسول الله ﷺ وفرمايل له الله ﷻ سره شريک. سحر. وژل.د هغه شخص چې وژل يې الله تعالی حرام کړي وی. سود خوړل، د يتيم مال خوړل، د جهاد په وخت کې د دښمن څخه تيښته کول او قذف د پاکو مؤمنو بې خبره بيبيانو.

حضرت عايشه ﷺ فرمايي چې هر وخت الله تبارک وتعالی زما د بې ګناهی په اړه ايت شريف نازل کړ حضرت رسول اکرم ﷺ ممبر ته وخوت او هغه يې تلاوت کړ او د هغې څخه وروسته يې هغه دوه سړي او يوه ښځه په درو ووهل، چې هغه درې واړه ، حسان ، مسطح، او حمنی وو.

رواه ابو داود[2]

**دریيم مبحث- د قذف صفت:**

د قذف صفت په هکله د علماوو ترمنځ اختلاف دی ځنې علماء وايي دا د
الله تعالی او بنده ګانو حق دی او ځنې نور علماء وايي چې خالص د بند
ګانو حق دی. امام ابو حنيفه رحمه الله وايي په قذف کې دوه حده دي، يو د
الله تعالی حق او بل د بنده حق دی او د الله تعالی حق پکې ځکه غالب دی
چې د قذف په اساس د بنده اعراض مسحه کيږي، هر کله چې اعراض
مسحه شي، انسان ته پرې اذيت او ضرر رسيږي.
په دې کې عامه مصلحت دی، چې د دغه مصلحت په اساس له يوې خوا د
بنده ګانو د اعراضو ساتنه کيږي او له بله پلوه د مفاسدو او اضرارو مخه
نيول کيږي[1]
حنبلي او شافعي علماء وايي د قذف حق د بنده د خالصو حقوقو څخه
دی. په همدې اساس ويلی شو. چې د قذف بدله د مقذوف حق دی لکه
قصاص.
د دغه پورته اختلاف څخه لاندې نتايج لاسته راځي[2]
۱- د احنافو لومړی نتيجه هر کله چې د قذف دعوه قاضي ته وړاندې
شوه، دهغې څخه وروسته مقذوف د صلحې برائت او عفوې صلاحيت نه
لري، بلکې دصلحې او برائت حق نه لري
۲- د احنافو دويمه نتيجه د قذف پر حد کې ارث نه جاري کيږي
د مقذوف په وفات د قاذف څخه حد ساقطيږي
او د مقذوف ورثه حق نه لري چې په قاذف باندې حد تطبيق کړي
۳- د شافعي لومړی نتيجه د دعوې د اقامې څخه وروسته هم مقذوف د
دعوې د عفوی او برائت صلاحيت لري يعنې حق لري
۴- د شافعي دويمه نيتجه د قذف په حد کې تداخل نه جاري کيږي[3]

---

[1] فتح القدير ۴ جلد ۱۹۲ مخ ،حاشيه ابن عابدين ۴ ...
[2] ...

**څلورم مبحث: د قذف د ثبوت وسایل**
قذف په دوو شیانو ثابتیږي، چې هغه عبارت د اقرار او شاهدانو څخه دي،دلته به دواړه حالتونه ذکر کړو.
**لومړی مبحث**- د قذف د ثبوت د وسایلو څخه یوه وسیله اقرار دی او دا په دې معنی چې یو شخص په خپله پر خپل ځان باندې شهادت وایي، په داسې حال کې چې اقرار کوونکی به عاقل بالغ، غیر مکره او خبرې به کولی شي او همدغه د اقرار شرایط دي. عقل بلوغ، اختیار، نطق (خبرې کول).

**دویم مبحث- د قذف د وسایلو څخه دویمه وسیله شاهدان دي:**
دوه کسان به شاهدي ووایي. دلته هم یوه پوښتنه مطرح کیږي او هغه دا چې د دغو شاهدانو شرایط به څه وي؟
ځواب به داسې ووایو چې د زنا لپاره چې د شاهدانو کوم شرایط وو او مخکې موږ په تفصیل سره ولوستل دا او هغه شرایط یو ډول دي، چې د تفسیر او توضیح څخه یې صرف نظر کوو او یواځې نومونه به یې دلته ذکر کړو.
عقل، بلوغ، نطق، عدالت، اسلام، ذکور، اصالت، د قرابت رابطه، عداوت دښمني او اتهام[۱]

**پینځم مبحث - د قذف تکرار:**

د قذف د تکرار په اړه هم د علماوو ترمنځ اختلاف موجود دی، ځنې علماء وایي د تکرار په صورت کې یو حد دی او ځنې وایي د هر قذف په مقابل کې بیل، بیل د قذف حد تطبیقیږي
شوافع وایي که چیرې یو سړی پر یو ځل باندې قذف ووایي بل شخص ته او حد پرې تطبیق شي که همدغه شخص ته بیا قذف ووایي پر دې سړي باندې د قذف حد نشته او تعزیراً مجازات کیږي، ځکه د حضرت عمر ﷺ یو فعل دا دی چې ابي بکره ﷺ چې مغیرة ته یې تکرار قذف ویلی وو، یو حد تطبیق کړ.[١]
دا ځکه چې دغه دواړه حدود د یو جنس څخه دی او یو په بل کې تداخل نه کوي [٢]
مالکیه او حنفي علماء وایي که چیرې یو ځل چاته قذف ووایي او حد پرې تطبیق نه شي او د قذف د حد تطبیق وروسته بیا قذف ووایي په دې سړي باندې بیا د قذف حد تطبیق کیږي [٣]
له دې ځایه یوه بله پوښتنه راولاړیږي. که څوک یو جماعت ته قذف استعمال کړي پر دې باندې څو حده تطبیق کیږي؟
امام ابو حنیفه، امام مالک امام احمد او امام ثوری رحمة الله علیه وایي چې یو حد جاري کیږي
امام شافعي او امام لیث رحمة الله علیه وایي د هر یو کس لپاره پرې جلا جلا حد تطبیق کیږي[۴]

**شپږ مبحث-د قذف شرايط :**

لکه څرنګه چې د نورو حدودو لپاره خپل خاص شرايط موجود دي، د قذف حد لپاره هم يو سلسله شرايط ټاکل شوي دي. دې شرايطو نه غير د قذف جرم تحقق نه پيدا کوي، ځکه د قذف د فعل د جزا لپاره يواځې دا خبره بسنه نه کوي چې يو کس پر بل کس باندې، بې دليله د زنا تور لګولى وي. بلکې د دې لپاره يو څه شرطونه لازمي دي چې، ددغه شرايطو په اړه موږ دوه ډوله نظريات وړاندې کوو.

د احنافو په نزد د قذف لپاره لاندې شرايط بايد موجود وي، او هغه داسې چې ځنې به د قاذف پورې اړه لري، ځنې د مقذوف پورې، ځنې د قاذف او مقذوف پورې، ځنې د مقذوف به او ځنې د مقذوف فيه پورې اړه لري، چې په لاندې ډول بې وړاندې کوو.

لومړی د قاذف شرايط قاذف هغه چاته ويل کيږي، چې د قذف الفاظ يې استعمال کړي وي او لاندې شرايط بايد موجود وي.

۱- قاذف بايد بالغ وي.

۲- قاذف بايد عاقل وي.

۳- قاذف بايد په خپله خوښه باندې د قذف الفاظ استعمال کړي وي( اختيار شرط دی ).

۴- قاذف به د شرعي احکامو پابند وي ( يعنې حربي به نه وي او بل دا چې پر تحريم باندې بايد علم ولري. )

۵- مقذوف بايد قاذف ته د قذف اجازه نه وي ورکړي که اجازه يې ورکړې وي بيا قذف نه دی.[۱]

۶- قاذف به د مقذوف پلار نه وي.

دویـم- د مقـذوف شرایط: مقـذوف هغـه چاتـه وایـي چې د هغې پوري د قذف الفاظ استعمال شوي وي او شرایط یې په لاندې ډول دي.

مقذوف دوه ډوله شرایط لري:

۱- مقذوف باید محصن وي او د قذف د احصان شرایط په لاندې ډول دي:

عقل

بلوغ

حریت

اسلام

عفت

۲ - مقذوف باید معلوم وي.[۱]

**دویم مطلب- د قاذف او مقذوف (دواړو) شرایط:**

په قاذف او مقذوف دواړو کې د علماؤ په اتفاق سره لاندې شرایط باید موجوده وي.

قاذف به د مقذوف پلار یا نیکه نه وي، نه به یې مور او نه به یې هم نیاوي.[۲]

**ځلورم** - مقذوف به (د قذف الفاظ) د مقذوف به لپاره شرایط دادي، چې دا به صریح الفاظ وي، لکه د زنا نسبت کول، یا به قایم مقام د صریح الفاظو وي، لکه د نسبت نفې کول.[۳]

**درېيم مطلب - د مقذوف فيه شرايط (د قذف مكان):**

د قذف د مكان لپاره شرط دی، چې د قذف الفاظ به په دارالعدل (دارالاسلام ) كې وي، كه چيرې په دارالبغی كې وي، د قذف حد نه تطبيقيږي، ځكه چې د حد د تطبيق لپاره د امام او حاكم موجوديت شرط دی او په دار الحرب كې حاكم موجود نه وي[1]

ولې د امام قرطبي په قول د قذف لپاره علماء لاندې شرايط ټاكلي دي:

قاذف بايد دوه شرايط ولري، عقل او بلوغ. د مقذوف شرايط هم دوه دي، چې يو يې د زنا نسبت كول او بل يې د نسب نفې كول.

د مقذوف شرايط پنځه دی، عقل، بلوغ، اسلام، حريت او عفت دی او په مجموع كې ټول شرايط ۹ دي[2]

## څلورم څپرکی

## د شرابو حد

د اسلام په شروع کې د نورو جاهلي طريقو په شان شراب څښنه هم عامه وه، هر کله چې رسول اکرم ﷺ مدينې منورې ته هجرت وکړ، په دغه ځای کې هم د شرابو څښل عام وو، عام خلک د شرابو په ظاهري فايدو عاشقان وو، کوم اضرار او نواقص چې پکې موجود وو، هغه ته متوجه نه وو، خو الله تبارک وتعالی په هر قوم کې عقلمند پيدا کړي، چې عقل ته پر طبيعت باندې غلبه ورکوي او د عقل په مقابل کې خواهشات پرېږدي.
د اسلام مقدس دين د فطرت دين دی، له دې کبله په دې دين کې شرعي احکام د فطرت سره بالکل مطابقت لري او د سالم فطرت خاوندان، د حرامو شيانو څخه کرکه لري.
رسول اکرم ﷺ د سليم فطرت خاوندانو په سر کې راځي.
همدارنګه په صحابه کرامو کې هم د وړاندې نه داسې کسان موجود وو، چې د شرابو له حرامېدو وړاندې يې هم شرابو ته لاس نه دی وروړی.
د مدينې منورې د هجرت نه وروسته يو تعداد صحابه کرامو، لکه عمر فاروق رضي الله عنه، معاذ بن جبل رضي الله عنه او داسې نور صحابه رسول اکرم ﷺ ته حاضر شول او عرض يې وکړ، چې شراب او جواري، خو د انسان عقل هم خرابوي او مال هم تباه کوي.
په دې باره کې ستاسې حکم څه دی؟ دې نه وروستنه په دې هکله لومړنی ايت کريم نافذ شو او دا هغه ايات کريمه دی چې د شرابو د حرمت لپاره لومړنی ګام و، د دې څخه وروسته دويم حکم راغی، د دې څخه وروسته نهايي او قطعي حکم راغی.
د دې لپاره چې موږ او تاسې په دې موضوع ښه پوه شو، پر لاندې موضوعاتو باندې بحث کوو:

**د شرابو تدريجي حرمت**

د شرابو په حرمت کې د شريعت تشدد، د شراب خور مجازات، د شرابو اضرار، د شرابو معنی او مفهوم، د شرابو د حد د ثبوت وسايل، د شرابو څکلو تکرار، په شرابو تداوي، د شرابو په پرېښودو کې د صحابه کرامو جذب، دا ټول موضوعات بيل بيل وړاندې کيږي.

**لومړی مبحث: د شرابو تدريجي حرمت**

الله تبارک وتعالی اسلامي شريعت ته يو خصوصيت ورکړی دی چې احکام يې نرم او اسانه دي، لکه څرنګه چې د حضرت محمد ﷺ د هجرت وړاندې او د هجرت په لومړيو کې د شرابو څکلو عادت موجود و او اکثره خلک پرې اخته وو، غير د يو کم تعداد حضراتو څخه چې مخکې مو دې خبرې ته هم اشاره وکړه. دا هم جوته ده. چې کله خلک ځانګړي عادات ولري او په خلکو موجود وي د هغو عادتونو يو مخيزه پرېښودل ورته ګران او سخت کار دی. خصوصاً د نيشې عادت چې د انسان پر طبيعت باندې قبضه کوي او بيا يې پرېښودل ورته خپل مرګ ښکاري.

د الله تبارک وتعالی له خوا شراب څښل او نيشه کول حرام وو او کله چې خلکو اسلام قبول کړ، نو د ټولو مضرو شيانو له منځه وړل او د خلکو ساتنه ترې هدف او مقصد و، خو د يو ځل حراموالي په تطبيق کې مشکلات را پيدا کېدل، نو ځکه په لومړي قدم کې د شرابو د حرمت په هکله يو قطعي او نهايي حکم رانغی، يواځې هغه اضرار چې په شرابو کې موجود وو د هغې يادونه وشوه، لکه الله تبارک و تعالی چې په قرآنکريم کې فرمايي:

يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ۚ قُلْ فِيْهِمَآ اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ ۫ وَاِثْمُهُمَآ اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا[1]

ژباړه: دوی له تانه د شرابو او جوارۍ د حکم په اړه پوښتنه کوي. ووایه! په دواړو کې لویه ګناه ده او د خلکو لپاره څه ګټه هم پکې شته، خو ګناه یې د ګټې څخه ډېره زیاته ده.[1]

دا د شرابو او جوارۍ په هکله لومړنی حکم دی، چې د شرابو د ناوړتیا په یادونه پکې بسنه شوې ده، ترڅو ذهنیتونه د هغوی د حراموالي قبلولو ته چمتو شي، یعنې په دې ایت کریمه کې په ښکاره ډول شرابو ته حرام نه دي ویل شوي یوازې اضرار او تاوانونه یې بیان شوي دي، چې د شرابو د څښلو په وجهه انسانان په ډېرو بدیو او ګناهونو اخته کیږي.

د دغه ایات کریمه د نزول څخه وروسته صحابه کرام په دوه برخو یا ډلو وویشل شول، یوې ډلې دا مشوره قبوله کړه او شراب څښکل یې بالکل پرېښودل او بلې ډلې صحابه کرامو په دې خاطر د شرابو څښل جاري وساتل چې دا خو حرام نه دی. یوازې تاوانونه یې ذکر شوي دي، دې حالت هغه وخته پورې دوام وکړ چې یوه ورځ د عبدالرحمن بن عوف ﷺ په هغه دعوت کې چې صحابه کرامو ته یې ورکړ، د لمانځه پر وخت کې صحابه کرامو څخه یوه لویه غلطي وشوه، دغه واقعه په ترمذي شریف کې داسې رانقل شوې ده.

په ترمذي شریف کې د حضرت علي ﷺ د هغه وخت یوه واقعه ذکر شوې ده، چې شراب لا حرام شوي نه وو او هغه داسې چې عبدالرحمن بن عوف ﷺ ځنې صحابه کرامو ته دعوت ورکړی وو، چې په کې د شرابو انتظام هم شوی وو، هر کله چې صحابوو خوراک څښاک وکړ، نو د لمانځه وخت شو او دغه د ماښام دلمانځه وخت و، حضرت علي ﷺ د امامت لپاره وړاندې شو، په لمانځه کې یې د (قل یا ایها الکافرون) سورت تلاوت کولو، چې د نیشې په سبب ډېره سخته غلطي ترې وشوه، له دې کبله د شرابو په هکله دوهم حکم نازل شو.

او هغه دا چې د نیشې په حالت کې لمانځه ته مه وړاندې کیږئ.[1]

---

[1] معارف القران اول جلد ۲ پاره ۲۰۰ مخ

لکه چې الله تبارک وتعالی په قرآنکريم کې فرمايي:

يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ

ژباړه: ای مومنانو چې تاسې د نيشې په حالت کې ياست، نو لمانځه ته مه نژدې کيږي، لمونځ بايد په داسې وخت کې وکړئ، چې تاسې پوهيږئ چې څه وايast.[۲]

دا د شرابو په هکله دويم حکم دی، لومړی حکم هغه وو، چې د سورت بقرې په ۲۱۹ نمبر ايت کې بيان شو، په هغه کې يواځې دومره يادونه شوې وه، چې شراب بد شی دی، د الله تعالی په وړاندې ډېر بد دي لکه چې د مسلمانانو يوې ډلې په همدې يادونه د شرابو نه پرهيز کول پيل کړي وو، ولې نورو صحابه وو په عادي ډول استعمالول ان تردې چې زياتره وخت به د نيشې په حالت کې په لمانځه درېدل او د يو څه په ځای به يې بل څه لوستل، چې واقعه مخکې ذکر شوه.[۳]

په اغلب ګومان د څلورم هجري کال په لومړيو وختونو کې دا دوهم حکم راغلی و، د نيشې په حالت کې د لمانځه ادا کول منع شو.[۴]

د هغه وروسته خلکو د خپلو شرابو وختونه بدل کړل او په داسې وختونو کې به يې څښل چې د نيشې په حالت کې دلمانځه وخت رانه شي، ولې يو تعداد د زياتو صحابه وو شراب ترک کړل او ويل يې هر هغه شی چې زموږ او د لمانځه په منځ کې حايل ګرځي خير پکې نشته، د دې نه وروسته درېيم حکم چې نهايي او قطعي حکم دی، راغی لکه چې الله تبارک وتعالی په قرآنکريم کې فرمايي:[۵]

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۝

ژباړه: ای مومنانو په تحقیق سره شراب، جواري، بتان او په غشو فال نیول دا ټول ناولي او شیطاني کارونه دي، له هغوی نه ډډه وکړي، هیله ده چې تاسې د نجات او فلاح خاوندان شي.[1]

د شرابو د حرمت په هکله د دې نه مخکې دوه حکمونه راغلي وو، چې مخکې ذکر شول، ولې د دغه وروستي حکم د راتګ نه مخکې رسول اکرم ﷺ خلکو ته اخطار ورکړ، چې شراب د الله تعالی ډېر بدي شي، لرې نه ده، چې د هغې دغوخ حراموالي حکم راشي، نو د هر چا سره چې شراب موجود وي، دوی دې هغه وپلوري، د دې خطبې څخه لږ وخت نه وو تیر شوی چې دغه ایت کریمه نازل شو.

حضرت محمد ﷺ امر وکړ اوس چې د چا سره شراب وي هغه نه څکلی شي نه يې خرڅولی شي بلکې توی دې کړي، همغه وو چې د مدینې منورې په کوڅو کې شراب وبهیدل، څنیو خلکو پوښتنه وکړه، چې موږ ولې دا یهودو ته په سوغات کې ورنه کړو، محمد ﷺ وفرمایل چا چې شراب حرام کړي دي، دهغه په سوغات کې ورکول يې هم حرام کړي دي.[2]

**دویم مبحث- د شرابو حرمت:**

څرنګه چې مخکې ایت کریمه مو ولوسته، چې هلته دا په صراحت سره ذکر شوي چې شراب حرام دي. همدارنګه د رسول اکرم ﷺ په احادیثو مبارکو کې هم شراب حرام ګڼل شوي چې یو څو احادیث دلته ذکر کوو:

۱- عن عایشه رضي الله عنها قالت سئل رسول الله ﷺ عن البتع، وهو نبیذ العسل، فقال: کل شراب اسکر فهو حرام.

ژباړه: حضرت عایشه رضي الله عنها فرمایي د نبي کریم ﷺ نه د بتع (شهدو نبیذ) په باره کې پوښتنه وشوه، چې ایا د دې څښل جایز دي او کنه؟ رسول اکرم ﷺ وفرمایل هر هغه مشروب چې نیشه راولي حرام دي

۲- نیشه کوونکي شیان که ډېر لږ هم دي حرام دي، لکه رسول الله ﷺ فرمایي:

وعن جابر رضي الله عنه ان رسول الله قال ما اسکر کثیره فقلیله حرام.

رواه، مسلم، ترمذی ابو داود. ابن ماجه.[1]

ژباړه: د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل:

کوم شی چې نیشه راولي لږ یې هم حرام دي

هر مسکر او مفتر شی حرام دی.

عن ام سلمة قالت نهی رسول الله ﷺ عن کل مسکر و مفتر، رواه ابو داود (ومسلم)

۱ سبل السلام، ۴ جلد ۳۵ مخ، نیل الاوطار، ۸ جلد، ۷۷مخ

ژباړه: بي بي ام سلمة رضي الله عنها وايي چې رسول اکرم ﷺ د هر هغه شي د خوراک څښاک څخه منع فرمایلې ده کوم چې نیشه راولي او مفتر (ستوونکي) وي

همدارنګه ډېر زیات احادیث مبارک په دې اړه موجود دي، په هیڅ صورت کې د شرابو لپاره اجازه نه شته، چې څوک یې استعمال کړي حتی د دوا لپاره استعمال هم جواز نه لري

[1] ...

**دریم مبحث- د شرابو د حرمت په اړه د شریعت تشدد:**

د اسلامي شریعت د احکامو او هدایاتو هدف او مقصد دادی چې مسلمانان د قوي شخصیت، قوي عقل، ښو اخلاقو او ادابو خاوندان وي او په دې کې هیڅ شک او شبهه نه شته چې شراب بدن ضعیفوي، عقل له منځه وړي، انسان په یو شریر حیوان بدلیږي او په ټولنه کې اخلاق او اداب هم له منځه ځي.

شراب نوشید تا علم گمراه شد
اینست فعل شراب و اثران بر عقول

یعني هر وخت چې د یو انسان عقل ذایل شي، نو پدې صورت کې انسان په یو شریر حیوان بدل شی، د هیڅ قسم نیکی او بدی تفکیک او تمیز نه شي کولای، د هغه څخه بیا هر شراو فساد صادریږي او هیڅ حد او اندازه نه لري، لکه قتل، تیری، فحشاء، د خلکو د مال، عزت، ناموس، حیا او اسرارو باندې تعرض او تجاوز، د اسلامي شعایرو توهین، د قوم، ملت او د وطن سره خیانت. د عامه مصالحو عدم رعایت او داسې نور د شرابو د بدو اثارو څخه دي او په همدې وجه شرابو ته ام الخبایث ویل شوي لکه چې رسول الله ﷺ فرمايي:

عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

اجتنبو الخمر فانها ام الخبایث[1]

ژباړه: د شرابو څخه ځانونه وساتئ ځکه شراب د پلیتیو مور ده، همدارنګه د عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روایت دی، چې رسول اکرم ﷺ وفرمایل:

الخمرام الفواحش واکبر الکبایر، و من شرب الخمر ترک الصلاة ووقع علی امه، وخالته، و عمته.(۲)

[1] التلخیص الکبیر. ۳۲۰ مخ مجمع الزواید. ۵ جلد ۲۷ مخ
[2] نصب الرانه ۴.جلد ۲۹۷ مخ

شراب مورد فحشاء ده او يو لويه ګناه ده د لويو ګناهونو څخه او

ژباړه: شراب مورد فحشاء ده او يو لويه ګناه ده د لويو ګناهونو څخه او
څوک چې شراب وڅښي لمونځ ترک کوي او د خپلې مور خاله او عمه سره
بد عمل کوي

ابو امامه ﷺ وايي نبي کريم ﷺ وفرمايل الله تبارک و تعالى د ټولې دنيا
لپاره رحمت او ټول عالم لپاره هادي راليږلى يم.
زما لوى او برتر الله تعالى ما ته حکم کړى دى چې د باجو د مزامير
بوټانو، صليب او د زماني جاهليت ټول ختم کړم. زما لوى الله تعالى په
خپل عزت قسم خوړلى دى، چې زما د بنده ګانو څخه کوم يو هم يو ګوټ
شراب وڅښي په هغې به په همغه اندازه د دوزخيانو وينى (زوى) څکوم
او کوم بنده چې زما د ويرې نه شراب پريږدي زه به په هغه په اخرت کې د
جنت د پاکو شرابو له نهرونو شراب څکوم.[1]

عبدالله ابن عمر ﷺ فرمايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل:
لايدخل الجنة عاق، ولا قماء، ولامنان، و لامد من خمر[2]
ژباړه: جنت ته نه داخليږي، چې بې د عذر څخه د مور او پلار نافرماني
وکړي، جوارګر او هغه سړى چې فقيرانو ته صدقې ورکوي او بيا پرې
احسان کوي او هغه شخص چې هميشه شراب څکي.
همدارنګه په بل ځاى کې د عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چې
رسول اکرم ﷺ وفرمايل:
لعن الله الخمر، وشاربها، وساقيها، وبايعها ومبتاعها، وعاصرها
ومعتصرها وحاملها، وماحمولة اليه.
ژباړه: الله تعالى په شرابو لعنت ويلى، هغې په څښونکي بل چا ته د
څکلو لپاره د ورکوونکي (ساقي)، پلورونکي، پيرودونکي، په
څښونکي، بل چا ته په زيښلو باندې امر کوونکي، په وړونکي او هغه
چا ته چې وړل کيږي.

---

[1] امام مسلم او امام احمد، باب الحمد

د ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي:
زنا کوونکی څه وخت چې زنا کوي مومن نه دی، غل څه وخت چې غلا کوي د غلا په حالت کې مومن نه دی[1]
او داسې نورډېر زيات احاديث په دې اړه موجود دي، چې د اسلامي شريعت له مخې شراب حرام او بل دا چې په احکامو کې زيات شدت موجود دی.

**څلورم مبحث- د شرابو د څښوونکي مجازات:**

د پيغمبر ﷺ په زمانه کې، د شراب خور لپاره د جزا خاص قسم او اندازه نه وه ټاکل شوې، څوک چې په دې ګناه اخته کيده. هغه په څپليو، لښتو، د څادر په ډبليو او د کجورو په لښتو وهل کيده، د رسول اکرم ﷺ په وخت کې پدې جرم باندې د وهلو اندازه د څلوېښتو کوړو څخه نه ده زياته شوې
د حضرت ابوبکر صديق ﷺ په وخت کې به شرابي څلوېښت درې وهل کيده، د حضرت عمر ﷺ د خلافت په لومړيو کې د شرابي لپاره همدا څلوېښت درې جزا وه. د وخت په تيرېدو کله چې حضرت عمر ﷺ وليدل چې په (۴۰) دُرو د دې جرم څخه خلک نه منع کيږي، نو د صحابه کرامو په مشوره يې اتيا دُرې جزا وټاکله.
د اسلامي شريعت له مخې دا د اسلامي حکومت په فرايضو کې شامله ده، چې د شرابو د منع کولو دا حکم په زور نافذ کړي
د بني ثقيفو د (رويشند) نومې سړي دوکان له همدې امله وسوځول شو چې په پټه يې شراب پلورل، په يو بل وخت کې د حضرت عمر ﷺ په حکم يو بشپړ کلی په دې ګناه چې هلته شراب په پټه جوړېدل او پلورل کيدل، وسوځول شو.
ولې د فقهاوو ترمنځ د شرابو په اندازه کې اختلاف دی

[1] مسلم بخاري، احمد، ترمذی نسايي په کتاب الحد...

امام مالک رحمة الله علیه ،امام ابو حنيفه رحمة الله علیه او په يو روايت کې امام شافعي رحمة الله علیه وايي چې د شرابو اندازه اتيا دُرې ده.

خو امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه او په يو روايت کې امام شافعي رحمة الله علیه وايي چې د شرابو د حد اندازه څلوېښت دُرې ده، چې حضرت علي ﷺ هم دغه څلوېښت دُرې غوره کړې ده.

د پورته توضيحاتو څخه دا سې معلومېږي چې علماء پدې باندې اتفاق لري چې د شرابو جزا حد دی او په دې باندې هم اتفاق لري چې جزا يې دُرې دي، خو د دُرو په اندازه کې اختلاف دی، يو ډله علماء وايي چې حد به يې څلوېښت دُرې وي او يو تعداد علماء وايي چې حد به يې اتيا دُرې وي.[1]

امام ابو حنيفه رح امام مالک رحمة الله علیه او امام ثوری رحمة الله علیه وايي چې د شرابو د حد اندازه (۸۰ ) دُرې ده او دا ځکه چې دا د اصحابو په اجماع باندې ثابته ده، حضرت عمر ﷺ پدې باره کې اصحاب راجمع کړل او پوښتنه يې ترېنه وکړه، عبد الرحمن بن عوف ﷺ وفرمايل چې د دې لپاره يو ضعيف حد وټاکه چې هغه عبارت د ۸۰ دُرو څخه دی.

همغه وو چې حضرت عمر فاروق ﷺ اتيا دُرې جزا وټاکله، خالد بن وليد ﷺ او ابو عبيده بن جراح ﷺ چې په شام کې وو هغوی ته يې هم د ۸۰ دُرو لارښوونه وکړه.

خو امام شافعي رحمة الله علیه او امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه وايي چې د شرابو حد څلوېښت دُرې و، چې حضرت علي ﷺ وليد بن عقبه ﷺ ۴۰ دُرې وواهه او داسې يې وفرمايل:

رسول اکرم ﷺ ۴۰ درې، ابوبکر صديق ﷺ ۴۰ دُرې شراب خواره وهلي، حضرت عمر فاروق اتيا دُرې وواهه چې دا ټول سنت دي او زما خوښه هم دا ده.[2]

[1] فقه الاسلامی وادلته ۷ جلد ۵۳۵۳ مخ
[2] ...

همدارنګه د حضرت انس ؓ څخه روايت دی د شرابو حد د کجورو لښتو او پڼو سره د وهلو حکم شوی او حضرت ابوبکر صديق ؓ د خپل خلافت په دور کې شراب څښوونکي څلوېښت کوړې ووهل.[1]

او د شرابو د حد اندازه چې ۸۰ دُرې ښودل شوې، دليل يې د مسلم او بخاري شريف روايت شوی حديث شريف دی.

د حضرت سايب ابن يزيد ؓ څخه روايت دی، چې د حضرت عمر فاروق ؓ په وخت کې چې د شراب څښوونکو تعداد زيات شو او سرکشي هم زياته شوه، نو حضرت عمر ؓ اتيا دُرې جزا ورته وټاکله.

**پينځم مبحث-د شرابو څکلو تکرار:**

رسول اکرم ﷺ په اوايلو کې داسې حکم کړی وه، چې شراب خور تر درې ځلې په دُرو ووهئ. ولې که په څلورم ځل يې بيا هم شراب وڅښل، نو هغه قتل کړئ چې دا حکم بيرته بيا له منځه لاړه، يعنې د شرابي د قتلولو حکم منسوخ شو، دليل يې دا حديث شريف دی.[2]

حضرت جابر ؓ د رسول اکرم ﷺ څخه روايت کوي چې رسول اکرم ﷺ وفرمايل، کوم سړی چې شراب وڅښي په دُرو يې ووهئ او کوم سړی چې بار، بار شراب څښي، ترڅو چې په څلورم ځل په شرابو ونيول شي، نو هغه قتل کړئ.

حضرت جابر ؓ فرمايي چې د دې څخه وروسته نبي کريم ﷺ په خدمت کې يو سړی وړاندې شو چې هغه په څلورم ځل شراب څښلي وو، هغه يې ووهلو، خو قتل يې نه کړ.[3]

---

[1] فقه السنه، ۲جلد ۳۵۴ مخ

[2] فقه السنه، ۲ جلد ۳۵۴ مخ

[3] رواه ترمذي وابو داود، باب الخمر، فقه ال

**شپږم مبحث- د شرابو اضرار:**

په شرابو کې روحاني، بدني او اخلاقي اضرار ليدل کيږي، چې دغه اثار او اضرار يې هم ټولنې ته سرايت کوي او هم بشر ته، چې د ښه پوهيدو لپاره مونږ دغه اضرار په لومړي قدم کې د اسلامي شريعت له مخې او وروسته د مختلفو علومو د علماو د نظرياتو له مخې روښانه کوو.

۱- د اسلامي شريعت له مخې د شرابو روحاني او جسماني اضرار:

د سورة مايدې د (۹۰) او ۹۱ ايتونو شان نزول څخه داسې معلوميږي، چې په دې ايت کريمه کې د دوه شيانو خرابي، اضرار او حراموالی بيان شوی، چې عبارت د شرابو او جوارۍ څخه دي د انصاب بيان يې ځکه ورسره يو ځای بيان کړی چې خلک پدې پوه شي، شراب او جواري په هغه اندازه لويه ګناه لري لکه چې بت پرستي لويه ګناه ده.

د ابن ماجه په يو روايت کې رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي:

شارب الخمر کعابد الوثن.

ژباړه: شراب څښوونکي دومره لوی ګناهګاران دي لکه څومره چې بت پرستان لوی ګناهګاران دي.

چې دا يې يوه روحاني صدمه او ضرر شو، دويمه رواني صدمه او ضرر يې عبارت دی له رجس من عمل الشيطان.

يعنې دا شراب د سليم فطرت په نزد يو کرکجن او ناوړه عمل دی دنياوي اضرار هم په همدغه ايت کې کريمه کې ذکر شوي دي

إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ

يعنې دښمني، بغض او کينه يې دنياوي اضرار دي

او بل دا چې په حديث شريف کې شرابو ته اما الخبايث او ام الفواحش ويل شوي دي، نو ځکه اسلامي علماء وايي چې په شرابو کې زيات دنياوي او اخروي اضرار شته دي

۲ - د طب د علماو له نظره:
د طب علماء وايي چې شراب د هغه عظيم او لوی خطر څخه عبارت دي چې بشر تهديدوي او يوازې نيشه يې خطر او ضرر نه دی، بلکې زيات بدني اضرار منځته راوړي، لکه مختلف امراض، پدې اړه د بنتام په نوم يو عالم داسې وايي:
که د ۲۱ کلنۍ څخه تر ۲۳ کلنۍ پورې په الکولو معتاد (۵۱) ځوانان مړه شي، نو په دې حالت کې غير معتاد انسان نه مړ کيږي، يعنې يو ځلوېښت معتاد ځوانان زيات مړه کيږي
د هوګو په نامه يو بل عالم وايي په تجربو ثابته شوې ده، چې هغه ځوانان چې شل کاله عمر لري او د دې انتظار کيږي. چې پنځوس کاله عمر به ولري، د شرابو څکلو په اساس د ده عمر د پنځه ديرش کلنۍ څخه نه زياتيږي.
يو بل عالم وايي چې د شراب څښوونکي عمر په متوسط ډول د (۳۵-۵۰) کلنۍ پورې وي. په داسې حال کې چې څوک شراب نه څښي د هغوی او سط عمر د (۲۰) کالو څخه پورته دی.
د الکولو اثر پر نسل باندې. کله چې يو سړی مست او نيشه وي او په همدغه حالت کې مجامعت وکړي او نطفه القاح شي، په دې حالت کې ماشوم ته ۳۵ فيصده د الکليستم عوارض منتقل کيږي
او که چيرې نر او ښځه دواړه نيشه وي ۱۰۰ سلنه عوارض په طفل کې ښکاره کيږي، د دې خبرې د اثبات لپاره لاندې نظر ذکر کوو.
هغه اطفال چې مخکې د وخت نه دنيا ته راځي پر هغوی د شرابو د زيان کچه په دې ډول ښودل شوې: مور او پلار چې دواړه مست وي، ماشوم ته يې زيان ۴۵ سلنه په سلو کې او که چيرې مور په الکولو معتاده وي ۳۱ سلنه په سلو کې او که چيرې پلار معتاد وي په سلو ۱۷ سلنه زيان ماشوم ته رسيږي

او هغه اطفال چې هغوی د تولد څخه وروسته د ژوندي پاتې کېدو قابلیت نه لري ۲ سلنه به يې پلرونه معتاد وي او ۴۵ سلنه به يې مورګانې د الکولو معتادې وي

او هغه ماشومان چې د کافي عقلاني او د ماغي قوي نه لرونکی وي ۷۵ سلنه يې مورګانې او په همدې کچه يې پلرونه معتاد وي

همدارنګه شراب بدن کمزوری کوي او د امراضو په مقابل کې د بدن د مقاومت قوه له منځه وړي چې د همدې څخه زيات امراض منځته راوړي د بدن پر ټولو جهازونو او سيستمونو باندې منفي اثر کوي، چې په نتيجه کې جنون، تبرکلوز او نور امراض منځته راوړي او همدا لامل دی چې شراب د فقر، مسکنت، ذلت او حقارت سبب ګرځي، نو پکار ده، چې خانونه تر ېنه وساتو.

۳- د اخلاقو د علماوو نظريات: د اخلاقو او ادابو علماء وايي چې الله تبارک وتعالی دغه نظام د دې لپاره رالیږلی، چې انسانان په امن، اطمنان او سوکالۍ سره ژوند وکړي او د ژوند په ټولو پړاوونو کې پرمختګ او انکشاف وکړي او هم د کمال لوړو درجو ته ورسيږي، د ابرو، عزت، حيا او متانت ژوند وکړي، نو بايد چې ټول اخلاقي معيارونه په نظر کې ونيول شي.

لکه صدق، تقوی، امانتداري او نور، خو دا ټول شيان هغه وخت منځته راځي چې په ټولنه کې د سليم عقل لرونکي انسانان ژوند کوي، اما هر وخت چې يو شخص شراب وڅښي د هغې عقل ذايل شي او په يو شرير حيوان بدل شي او په نتيجه کې ټول اخلاقي معيارونه له منځه يوسي.

۴- د جامعه شناسۍ د علماوو نظريات: د دې لپاره چې په انساني ټولنه کې نظم او دسپلين موجودي، نو بايد دهغه اعمالو مخه ونيول شي، چې د انساني ټولنې د نظم د اخلال سبب کيږي او که چيرې د دغه اعمالو مخه ونه نيول شي، نو په ټولنه کې به فساد، جرايم بد امني، ګډوډي منځته

راشي چې د دغه اعمالو په اساس به په ټولنه کې د عدالت ، مساوات
انصاف پرمختګ او انکشاف مخه نيول کيږي . او جرايم به زيات شي
د نيون د ښار د قانوني طبابت موسسه چې په کال ۱۹۲۱ م کې د الکولو د
معتادينو د جرايمو لست يې برابر کړی ، په لاندې ډول دی :
الف - په عمومي ډول د قتل جرايم ۵۰ په سلو کې د شرابو له امله
ب - د ضرب جرحي جرايم (۷۷،۸) په سلو کې د شرابو په اثر .
ج - د سرقت جرايم ۵ ، ۸۸ په سلو کې د شرابو په اثر .
د - جنسي جرايم ۸ ، ۸۸ په سلو کې د شرابو له کبله .
۵ - د اقتصاد د علماوو له نظره د الکولو اضرار : که چيرې خپل مال او
شتمني د خپل احتياج او ضرورت د رفع کولو لپاره مصرف کړو ، هغه به
هم زموږ لپاره او هم د ټولنې لپاره ګټوره وي . خو هغه مال او شتمني چې
په شرابو باندې مصرفيږي هغه هم زموږ او هم د ټولنې لپاره په زيان ده ،
ولې موږ ګورو چې د شرابو په لاسته راوړلو زيات مال او شتمني
مصرفيږي ، هم په شخصي لحاظ او هم د بيت المال څخه .
چې د دې خبرې د ثبوت لپاره موږ ستاسې توجه يوې احصايې ته چې په
فرانسه کې شوې ده راګرځوو .
په فرانسه کې غير د شخصي تاوانونو څخه د دولت بوديجې ته ۱۸۰
ميليارده فرانکه په يو کال کې تاوان رسيدلی دی ، چې په لاندې کرښو
کې يې مطالعه کوو :
۱ - د عدالت د تامين او د زندانونو لپاره لګښت (۲۰) ميليارده فرانکه
۲ - د عمومي او خيريه کومک لګښت (۴۰) مليارده فرانکه
۳ - د شراب څکونکو لپاره د مرضتون لګښت (۱۰) مليارده فرانکه .
۴ - د ټولنيز امنيت د تامين لپاره ۷۰ سلنه مليارده فرانکه لګښت
همدارنګه موږ ګورو چې په شخصي لحاظ زيات لګښتونه د شرابو له
امله کيږي . خپله د شرابو اخيستلو لپاره لګښت ، د بې کاره پاتې کيدو

په اساس زيان، تصادمات او پيښې کوم چې د شرابو په نتيجه کې منځته راځي او داسې نور.

۴-د کيميا د علم له مخې د شرابو بدني اضرار:

د کيميا د علم لـه مخـې دا معلومـه شـوې ده، کـه چيـرې څـوک الکـول استعمال کړي، نو هغه ته زيات بدني تاوانونه رسيږي، چې يو څو يې د نمونې په څير دلته ذکر کوو:

۱- پـه دوامـداره توګـه د ميتـايـل الکـولـو اسـتعمال د Vit B1 د کمـوالي سبب کيږي، چې په نتيجه کې يو ډول عصبي ناروغي منځته راځي چې د Aleoholicpaty په نامه يادېږي

۲-د الکولو استعمال په اساس په بدن کې Vit.Bcomplex کميږي

۳-ځيګر نسبت نورو غړو ته زيات متضرر کيږي

۴-د الکولـو د اسـتعمال لـه کبلـه د بـدن د انسـاجو نـه يـوه انـدازه اوبـه جذبيږي او د نايتروجني موادو غلظت په پښتورګو کې زياتيږي، چې په نتيجه د پښتورګو د فلتريشن په کار کې ستونزې منځ ته راځي

۵-الکول په عصبي سيستم زيات تاثير کوي او زيات تاثير يې په عصبي مرکزي سيسـتم کيـږي چـې (Cortex) نـو ميږي او پـه نتيجـه کـې شـخص سالم او منطقي قضاوت دلاسه ورکوي، خپـل احساسـات نـه شـي کـابو کولای چې بلاخره د ټولنې د اخلاقو او ادابو ضد اعمالو ته مخه کوي

۶-د الکولو داستعمال په اساس د معدې جدار تخريبيږي

۷-کـه د (۲۰-۲۵) کـالو پـورې څـوک شـراب وڅښـي دالکولـيک سايکوسس پـه نـوم مـرض منځتـه راوړي Alcoholic psychosis چـې پـه Vit B. Com plex او Gulucose (insulim ) سره تداوي کيږي، د دغه تداوي سره سره بيا هم ۴ سلنه څخه تر ۵ سلنې پورې معتادين خپـل ژونـد له لاسه ورکوي

۸-د الکولـو پـه اسـاس د زړه د عضلاتو تنقيص او د شراينو سختوالی رامنځته کيږي، چې دا کار د زړه د دربډو ( سکته قلبي ) سبب کيږي

رسيدلی هم و . هغه يې په همغه ځای کې وغورځولو په مدينه منوره کې په دې ورځو کې شراب لکه د باران د اوبو په څير په کوڅو کې بهيدل د شرابو د حرمت د حکم څخه وروسته رسول اکرم ﷺ په خپلو مبارکو لاسونو د شرابو مشکونه څيرل کړي. کوم چې په بازار کې موجود وو او زيات نور صحابه کرامو هم د شرابو مسکونه څيرې کړل.

يو صحابي چې د شرابو تجارت يې کاوه. خپل هغه شراب چې د شام څخه يې راوړي و . د ښار نه بهر پرېښودل او دا ځکه چې هغه يې د حرمت څخه خبر شوی و او مدينې منورې ته راغی او د رسول اکرم ﷺ څخه يې په دې هکله د حکم پوښتنه وکړه. رسول اکرم ﷺ هغه ته د الله ﷻ د حکم پرځای کولو په خاطر د ټولو مشکونو د څيرې کولو حکم وکړ.

دغه صحابي د خدای ﷻ په مينه مست او فرمانبردارو بې د کوم عذر او دليل څخه يې شراب واړول.

د صحابه کرامو دا بې مثاله فرمانبرداري او خبره منل د اسلام معجزه ده، ځکه چې کله څوک په يو شي باندې معتاد شي د هغې پرېښودل د هغوی لپاره د لږ ساعت لپاره هم ډېر ګران شي. خو د الله ﷻ د حکم په اساس صحابه کرامو هغه مينه چې تردې وخته يې د شرابو سره لرله، په کرکه بدله شوه. په تيرو اديانو کې د شرابو د حکم حراموالي په نتيجه کې د مسلمانانو عملي نمونه مخامخ راغله، دا چې اوس تاسې د اسلام معجزه ګورئ دا د رسول اکرم ﷺ د تربيت بې مثاله اثر يا د اسلامي سياست لازمي نتيجه ده. چې د شرابو د عمرونو عادت او داسې رواج چې د لږ ساعت لپاره هم د هغې پرېښودل ډېر ګران معلوميدل. مګر د دې د حراموالي د اعلان په اورېدو سره د مسلمانانو طبيعت بالکل بدل شو. هغوی خپل ډېر خوښ شی سمدستي بد او چټل وګڼلو. له بلې خوا د پرمختګ دعوه ګيرو سياست ( چې زړونه ورته بختيږي ) خصوصاً د امريکا د سياست مثال وګورئ، څو کاله وړاندې کله چې د صحت او ټولنې ماهرانو د شرابو بې حده هلا کوونکي اضرار او نواقص وليدل، نو

په خپل ملک کې یې د شرابو د بندولو لپاره د قانون په جوړلو او د هغې په تطبیق باندې کار شروع کړ، چې لاندې اجرات او مصارف یې ترسره کړه:

۱- د قانون د جوړېدو لپاره فعالیتونه:
الف- دوی خپل ټول نشراتي ارګانونه، لکه، راډیو، تلویزیون، اخبار، مجله او نور په کار واچول ترڅو خپل قوم دې ته اماده کړي، چې د شرابو د بندیز لپاره قانون جوړ کړي، دوی (۲۰) میلونه امریکا یې ډالر په دې لارې مصرف کړل.
ب- ۱۰ میلونه اوراق یې چاپ کړل، کله یې چې د شرابو د منع قانون تصویب کړ، نو د تطبیق لپاره یې زیات مصارف ترسره کړل.
۲- د قانون د تطبیق لپاره فعالیتونه:
الف -۲۵ میلونه ډالر یې مصرف کړل ترڅو د شرابو بندیز قبول کړي
ب- تقریباً ۳۰۰ نفره یې اعدام کړل
۲۳۳۵۳ نفره یې بندیان کړل
۲۴ میلونه ډالر یې له دې لارې جریمه راټوله کړه.
او داسې نور زیات مصارف یې وکړل. ولې د دې ټولو مصارو سره سره بیاهم په دې کامیاب نه شول، چې شراب بند کړي او د شرابو د بندیز په دوران کې تر ټولو زیات شراب څکل کیدل.
په دغو دواړو سیاسي نظامونو کې دا دومره لوی توپیر ولې موجود دی؟ او څه عوامل یې موجود دي؟ په لاندې ډول یې رونښانه کوو.
۱ اسلامي شریعت د قانون د انفاذ نه مخکې د خلکو په ذهنیت باندې کار کړی و.
۲ اسلامي شریعت د ذهنونو په جوړولو کې د زهد تقوی... او د اخیرت د فکر کیمیاوي نسخه استعمال کړه.
ولې امریکا د دې څخه بالکل خالي ده.

د عقل لرونکو لپاره اوس هم دا د عبرت خبره ده، چې اسلامي شریعت د دغه نسخې له امله د نیا ته امن او امان ورکړی.

**اتم مبحث-شراب څه شي دی؟**

هغه الکول چې انسانان ترې د څلکو لپاره استفاده کوي، د ایتایل الکولو څخه عبارت دي، چې کیمیاوي CH3 CH2 CH1 یا دا چې شراب یو معلومه مایع ده چې د حبوباتو او دانو د نچوړ او تخمر څخه جوړېږي، الکولي اثر لري او د پنشیر سبب ګرځي، پس هر هغه شي چې الکولي اثر ولري او نیشه کوونکی وي. دا عبارت د شرابو څخه دی، دا چې د هر شي څخه جوړ شوي لږوي او که ډېر د اسلامي شریعت له مخې د شرابو حکم پرې تطبیق کېږي. څکه چې دا ټول شراب دي او شراب حرام دي، چې د حرمت دلایل او حکمت یې موږ مخکې ولوسته، اوس دلته یوه پوښتنه مطرح کېږي

او هغه داسې ده چې شراب د ډېرو شیانو څخه جوړېږي، چې په قرآنکریم او نبوي احادیثو کې بیان شوي دي.

د قرآنکریم دلیل: سورة نحل ۶۷ نمبر ایت

وَمِنْ ثَمَرٰتِ النَّخِيْلِ وَالْاَعْنَابِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَرًا وَّرِزْقًا حَسَنًا ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝

ژباړه: د کجورو او انګورو د میوو څخه تاسې خلک نشیي شیان او د غوره خوراک شیان جوړوي بیشکه په دې کې د هغه خلکو لپاره لوی دلیل دی چې عقل لري

د احادیثو دلیل:

د ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل:

المخمرو من دهاتین الشجرتین النخلة والعنبه[1]

ژباړه: شراب د دوو ونو یعني خرما او انګورو څخه جوړېږي

[1] ... کتاب الحدود

د لته هدف دا نه دی چې يو اځې د دې دوز ونو څخه جوړېږي، بلکې هدف دا دی چې اکثره د دې دوو ونو څخه جوړېږي.
څکه چې نبي کريم ﷺ فرمايي (کل مسکر خمر) هر نيشه او .... حرام دی[1]
ما اسکر کثيره فقليله حرام[2] نيشه لړه وي که زياته وي حرامه ده.
حضرت ابن عمر ﷺ وايي چې يو ورځ حضرت عمر فاروق ﷺ د نبي کريم ﷺ په ممبر باندې ودريدو سره خطبه يې ورکړه او ويې فرمايل، چې د شرابو حرمت نازل شوی دی او شراب د پنځه شيانو څخه جوړېږي، انګور، خرما، غنم، وربشې او شهد و څخه او شراب هغه دي چې عقل باندې راخپور شي يعنې عقل بې کاره کړي. متفق عليه
په بل حديث کې راځي:
د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چې يو سړی راغی او د رسول الله ﷺ څخه يې د هغه شرابو په هکله پوښتنه وکړه. کوم چې د جوارو څخه جوړېده. چې د غه شراب د مِزَر په نوم ياديدل. رسول اکرم ﷺ ترېنه پوښتنه وکړه چې ايا دا شراب نيشه لورنکي وي؟ هغه سړي وويل، هو، رسول اکرم ﷺ وفرمايل هره نيشه حرامه ده. په الله ﷻ مې دې عهد وي، څوک چې شراب څکي هغه به طينة الخيال وڅکي. صحابه و پوښتنه وکړه، چې ای رسول اکرم ﷺ طنية الخيال څه شی دی؟ رسول اکرم ﷺ وفرمايل: د اهل النار و عصاره يانې د دوزخيانو وينې او زوې چې نچوړ شوي وي يا دا چې د دوزخيانو خولې[3]. دا سې نور زيات دلايل موجود دي، خو مونږ دا ويلی شو هر هغه شی چې نيشه راوړي هغه لږ وي او که ډېر حرام دي او هغه شراب دي[4]

---

[1] متفق عليه کتاب الحدود فقه سنه ۲ جلد ۳۳۲
[2] سبل السلام ، ۴ جلد ۳۵ نيل الاوطار ۸ جلد ۷۷ مخ
[3] امام مسلم . باب الخمر
[4] فقه السنه ۲ جلد . ۳۳۲ مخ

شاهدان یو هم موجود نه وي، په دې باندې حد تطبیقیږي او کنه؟ ددې په ځواب کې باید ووایو چې پدې سړي باندې حد ثابت نه دی، ځکه چې په ابوداود کې پدې هکله دلیل شته ابن عباس وایي چې یو سړي شراب وڅکل او مست شو، تردې چې خلکو هغه په داسې حالت کې په لاره پیدا کړ، چې په ټالۍ وهلو سره روان و( لکه څرنګه چې د شرابیانو عادت وي ) خلکو هغه ونیولو او غوښتل یې چې رسول اکرم ﷺ ته بوځي، ولې هر وخت چې د حضرت ابن عباس خواته نږدې شو، نو دې سړي ځان د خلکو نه خلاص کړ. او د ابن عباس ﷺ خواته یې ځان نیږدې کړ او پناه یې وغوښته، کله چې نبي کریم ته دا بیان وشو هغه (نبي کریم ﷺ ) وخندل او ویې فرمایل، ایا هغه داسې وکړل، بیا رسول الله ﷺ د هغه په باره کې هیڅ حکم ونه کړ. ( رواه ابو داود او مسلم )[1]

**لسم مبحث - د شرابو حد د تطبیق شرایط:**

هر وخت چې حد ثابت شي د هغې نه وروسته باید تطبیق هم شي، خو مخکې تر دې چې حد تطبیق شي باید لاندې شرایط موجود شي.

۱ -عقل: هر هغه سړی چې شراب وڅښي باید عاقل وي او که چیرې عاقل نه وي اولیونی وي او شراب وڅښي په دې حد نه تطبیقیږي.

۲ -بلوغ: دویم شرط چې د حد د تطبیق لپاره تاکل شوی هغه بلوغ دی یعنې هر هغه شخص چې بالغ نه وي او شراب وڅښي په هغه باندې حد نه تطبیقیږي.

[1] ابو داود باب الخمر مسلم کتاب الحدود

۳- اختیار: دریم شرط اختیار دی او دا په دې معنی چې دی سړی به شراب په خپله خوښه باندې څښلي وي او که چیرې په خپله خوښه یې نه وي څښلي او جبر پرې شوي وي بیا پرې حد نه تطبیقیږي

۴- د شرابو په نیشه باندې علم درلودل:

که څوک پدې باندې علم ونه لري، چې دا شراب دی او نیشه لري په هغې باندې حد نه تطبیقیږي، حد پرې هغه وخت تطبیقیږي، چې په دې علم ولري چې دا شراب دي[1]

**یوولسم مبحث- په شرابو باندې تداوي:**

د جاهلیت په وخت کې خلکو په شرابو باندې تداوي کوله خو څه وخت چې اسلام راغی په شرابو باندې تداوي بنده ((منع)) شوه.

د طارق بن سوید الجعفی ﷺ څخه روایت دی، چې د رسول الله ﷺ څخه د شرابو په هکله پوښتنه وشوه، رسول الله ﷺ نهې وفرمایله، هغوی وفرمایل چې موږ د هغې نه دوا جوړوو، رسول اکرم ﷺ وفرمایل انه لیس بدفاء ولکنه داء رواه احمد، مسلم و ترمذی.

شراب دواء نه ده، بلکې مرض دی.

د ابو درداء ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

ان الله انزل الداء والدواء فجعل لکل داء دواء، فتداوو ولا تتداوو بحرام (رواه ابوداود).

ژباړه: بیشکه الله تعالی مرض او دوا پیدا کړي او د هر مرض لپاره یې دوا پیدا کړې ده، بس تاسې خپل تداوي وکړئ، اما په حرامو باندې تداوي مه کوئ ((الحدیث))

---

[1] فقه السنه ۲ جلد، صفحه ۳۵۵ صفحه ۳۵۲